له مثبت پیغام سره ادبیات ۲
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو
له‌پاره ځانګړې کیسې

# د لمر ډالۍ

مینه نظري



ACKU
د لمر ډالي
مینه نظري
پرله‌پسې شمېره: ۴۱۱

# A Gift from The Sun

Mina Nazari





خوږې ټوله لار کې وږې وږې، نرۍ نرۍ لښتې راماتولې او لاره کې یې غورځولې او د پاسه یې وربانديې په ټوپو تېرېده. اوس نو خوږه له ترور څخه څو ګامه ځټ مخته شوې وه او هغه له ځټه ورپسې ورو ورو را روانه وه. ترور د غوا پړی نیولی ؤ. غوا د خوږې دې کار ته ښه پام نیولی ؤ! غوا خوږه پخپلوغټو غټو سترګو ځارله او د خوږې په لاسو ماتې شوې تنکۍ، خوږې ځانګې یې، په غټو شونډانو را ټولولې او خوړلې.

توانا
برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی
و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ACKU Box Library Extension
Est. 1996
ISBN 978-9936-646-24-7
9 789936 646247




## ده کتاب برگزیده‌ی دومین جشنواره‌ی ادبی «توانا»

## د ادبي سيالۍ د دويم پړاو لس غوره شوي داستانونه






























د لوی او ښښونکي خدای په نامه

۲

**له مثبت پیغام سره ادبیات**

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لهپاره ځانګړې کیسې




# د لمر ډالۍ

## مینه نظري


- **انځورګره:** سهیلا بختیاري
- **د پاڼو جوړونه:** رفیع الله شاهپور
- **د مخونو شمېر:** ۷۸
- **پرلهپسې شمېره:** ۴۱۱
- **کچه:** ۱۳.۵ × ۲۱ سانتيمتره
- **چاپشمېر:** ۴۰۰۰ ټوکه
- **خپروونکی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU)
- **لومړی چاپ:** ۱۳۹۸ل. (۲۰۲۰م) کابل – افغانستان
- **برېښنالیک(ایمیل):** publication@acku.edu.af
- **ویب پاڼه:** www.acku.edu.af
- **شابک:** ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۶-۲۴-۷


**د پښتو ژبې ارزوونکي: محمد انور وفا سمندر، صدیقالله بدر او ارش ننګیال.**

- تر نظر: د کاظم حمیدي رسا
- اجرایي شورا: عبدالوحید وفا، رشمي دانګل، فیض محمد نایاب-عطایي، بهار احمدي، عبدالستار اعظمي او محمد حامد نیازی.
- وېش: زینتالله قانت


- د چاپ حق خپروونکي لهپاره خوندي دی.
- د کتاب له مطالبو څخه ګټه اخستل یوازې د ماخذ په یادولو سره مجاز دي.
- لیکوال د کتاب منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه د ACKU نظریاتو څرګندویي نه کوي.

**یادونه:**

د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکري روزنې او ماشوم ادبیاتو د پیاوړتیا په هدف، د داستان لیکلو دویمه ادبي سیالي ترسره کړه.
د ادبي جشنوارې ادارې، په دري او پښتو ژبو داستاني اثار ترلاسه کړل. ورپسې ترلاسه شوي اثار تر ارزونې او څېړلو وروسته د ارزوونکې کمېټې له لوري غوره شول.
د اثارو په ارزونه او غوره کولو کې، د ارزوونکو دوو خپلواکو کمېټو په دوو پړاوونو کې، داستاني اثار وارزول. ټاکل شویو ادبي معیارونو ته په پام ، هر داستاني اثر ته امتیازونه ورکړل شول.
د افغانستان د معلوماتو مرکز د لا ډېر رڼښت او شفافیت په پار، فقط د دغې ادبي سیالۍ ترسره کېدو ته زمینه برابره کړې او د داستاني اثارو په ټاکلو کې یې کوم نقش نه‌درلود.

لس داستاني اثار(پنځه په پښتو ژبه او پنځه په دري ژبه) چې د «توانا» تنکي زلمي او ماشوم داستان ادبي جشنوارې په دویم دور کې غوره شول، د ادب برخې ایډیټرانو له لوري تر ادبي سمونو، رسامۍ، او پاڼه جوړولو وروسته، خپاره شوي دي.

په ټوله کې، د ادبي جشنوارې د دویم دور لهپاره ټول غوره شوي کتابونه ۴۰ زره ټوکه چاپ او د هېواد په گوټ گوټ کې وېشل کېږي.

**د ادبي جشنوارې اداره**
**د توانا پروگرام ACKU**

# د لمر ډالۍ

مينه نظري




د بهار د نجونو لیسه

# دلمر ډالۍ

د اوړي سره غرمه ده. خوږه له ښوونځي رخصت شوې. هغه اوس له خپلو همزولو سره، د سړک غاړې پلیو لار کې، مخ په کور روانه ده. هغې خپلې ملګرې هم ورسره تر خپلې زرغونې چترۍ لاندې پټې کړې دي. خوږې او ټولګیوالو به یې دا درې ورځې خپلو کې د اوړي د را روانو رخصتیو باره کې خبرې کولې. هغې به همدا ویل، «څو ورځې وروسته به ښوونځی رخصت شي!» دې سره به یې همزولو ټولګیوالو هم یوې تر بلې په لوړ غږ خبرې کولې! خو خوږې ته چې خپلې خبرې تر نورو مهمې ښکارېدې. هغه به ځای پر ځای ودرېده، چیغه به یې کړه: «چوپ، وایم چوپې شئ!»

بیا به یې د ټولګیوالو له لږ چوپتیا سره وویل:

که داسې هره یوه یوازې خپله واورئ، زه بیا هېڅ خبرې نه کوم!

دې سره د خوږې نورې ټولګیوالې غلې شوې. خو شینکۍ بې له ځنډه خپله نیمه خبره تکمیل کړه:

مور مې ویل «بچې، هوا ډېره ګرمه ده، د باندې په ګرځېدو ناروغه کېږې؛ ځکه نو ښوونځی رخصت درکوي!» نو زه به مې له خپلې خور سره کور کې سبق وایم... شینکۍ ته څه کوې؟

زه مې د بابا کره ځم. نیا او بابا جان مې ډېر یادېږي. اوس نو خوږې ووایه، ته به څه کوې؟

د خوږې په څېره خوږه مسکا را ښکاره شوه. او بیا یې ټولو ته کړل:

هو! زه هم کلي ته ځم! مور مې ویل چې کلی ډېر ښکلی ځای دی: سړه هوا، یخې اوبه، شنه باغونه...

دې سره خوږه د خیال په وزرو، د خوښیو په دنیا کې په پرواز شوه. دې سره هغې خپلې سترګې د لارې اړخ ته ولاړو لوړو ونو ښاخونو ته واړولې. د ونو پاڼې، د باد په لاسونو کې نڅېدلې. او دې صحنې خوږه لا د کلي په شوق کې کړه.

دې وخت کې کوثر د خوږې د کیسې په خیالي کلي کې په منډو منډو، څو ګامه تر دوی مخکې شوې وه. هغه د خیال په حواسو، د ویالې له کبانو، د هسکو چنارونو له مرغانو او د وزو له بچیو سره په لوبو وه. څو د خوږې لوړې چیغې ودروله. شاته یې وکتل: خوږه پړمخې پرته وه. د هغې په نیلي جامو د خاورو سپېرې دوړې پرتې وې او چترۍ یې دلته وړاندې، ددې پښو سره وه. ښه ؤ شینکۍ په غورځېدلې خوږې باندې لګیا وه، ناز ورکاوه او لا یې دلاسا کوله:

ـ وۍ! ژوبله شوې؟

خوږې له درده سترګې پټې کړې وې:

ـ الاااا پښه مې... وۍ، اللاااا...پښه مې...

شینکۍ لاس ورکړ:

ـ ته جګه شه چې تلی شې کنه!؟

خوږه له درده په زمکه غځېدلې وه. کوثر ورته په غوسه شوه:

ـ چېرې دې کتل... سترګې دې اسمان ته وې، خود به په مخ پرزې!



خوږې نالښت درلود نو شینکۍ ښه ورنږدې شوه، چې هغه را پورته کړي. د خوږې له راپورته کولو سره يې کوثر ته ووېل:
ـ د ونې ښاخ يې راکشاوه، دغه يې حال شو!
کوثر سوړمې په نخرو کش کړې او د خوږې درد يې عادي وبوله! او په کنايه يې شینکۍ ته کړل:
ـ هسې هم کلي ته ځي، ډېرې ونې به وګوري...هلته به په ونو ښه خپل زړه يخ کړي!
شينکۍ ورغبرګه کړه:
ـ هو! دا ښاخوونه لوړ دي. څه کلي کې به ډېرې وړې ونې پيدا کړي!
خوږه چې ډېره ژوبله شوې وه، د ټولګيوالو داسې خبرو نوره هم وردردوله او په غوسه يې ووېل:
ـ نو تر هغه وخته به زه د ونې ښاخونه نه ماتوم؟ هره ورځ مې نه ګورې چې تر کوره پرې لوبې کوم؟
کوثر هغه نوره هم ملامته کړه او دا طعنه يې هم ورکړه:
ـ نن خو بيخي پر ونو ځنګيدلې!
خوږې په داسې لهجه، چې تا به وېل برحقه ده، ځواب ور لنډ کړ:
ـ خو ښاخ کلک ؤ، نه را ماتېده!
د خوږې دې خبرې سره د شينکۍ حوصله ختمه کړه:
ـ ښه بس کړئ! خوږې څه چې کلي ته ولاړې، هلته بيا زانګېدلو ښه زړه يخ کړه!
دې خبرې سره د خوږې سترګې وځلېدې. درد يې هېر شو. جامو ته يې ټک ورکړ او کوثر او شينکۍ ته يې خوشحاله وکتل. له دې سره درې واړو په ګډه کتابونه راټول کړل. شينکۍ د خوږې شنه ماته شوې څترۍ راپورته کړه!

لمر ډېر تـود لګېـده. شـینکۍ خـوږې تـه نـږدې ورغلـه او پـه شـوخۍ یـې ورتـه کـړل:

راځـه اوس بـه بیـا ولوېـږې! کـه کلي کې هـم داسـې وزانګې؛ نـو پښـې مښـې دې ماتـې بولـه هههههـه!

خـوږه هسـې هـم دردېدلـې وه؛ نـو ددې خـبرې پـه اورېدلـو سره یـې پـه سره مچـۍ بدلـه شـوه او شـینکۍ تـه یـې کـړل:

ـ په تا یې څه!

دې خبرې سره یې شینکۍ ټېل وهله او دا یې ورته ووېل:

نورې راباندې ملنډې مه وهه!!

کوثـر ولیـدل، چـې خـوږه پـه رښـتیا ژوبلـه شـوې! نـو ورنـږدې شـوه، چـې لـه هغـې سره مرسـته وکـړي:

ـ صبر خوږې، ته دې دا کتابونه ماته راکړه!

دې سره شینکۍ ته غوسه ورغله او په ګیله یې ووېل:

ـ کوثر ګورې؟ هم ورسره مرسته کوو؛ خو دا بیا هم جنګ کوي!

دې سره خوږې خوله ورته کږه کړه!

ـ وۍ جار! یوه چترۍ ګګه دې راپورته کړه، خبرې دې خلاصی نه لري!

شینکۍ بیا په خبرو کې له چا کمه وه! ژر یې ځواب ورکړ:

ښنګه، په شا دې نه کړم!؟

خوږې په مسخرو ورته وویل:

نرۍ نرۍ پښې دې وګوره! ته ځان نښې وړی؛ ما به ښه یوسې!

هـر رنګـه چـې ؤ، درېـواړو دې خـبرې تـه وخنـدل! بیـا کوثـر او شـینکۍ مخکـې شـوې. هغـوی څـو ګامـه لاړې؛ خـو خـوږه چـې کـراره ولاړه، لـه شـاټـه ورپسـې غـږ کـړو:

اې ودرېږئ... زه نشم تلی! نه ګورئ، پښه مې ډېر درد کوي، اخخخخخ!

شینکۍ حیرانه ودرېده او کوثر ته یې کړل:
اوس به څنګه کوو!؟
کوثر مخ ور واړاوه او یو څه په دماغ یې وویل:
نور څه کولای شو! راځه تر لاس یې ونیسو، ګونډې روانه شي!
شینکۍ خوږې ته ور وړاندې شوه:
لاس دې زما په اوږه واچوه!
خوږې خپله ښۍ اوږه شواړه د شنیکۍ په غاړه ور واچوله. بیا شینکې یو څه په خوښۍ ورته ووېل:
شاباس، داسې... اممم... اوس دې دا بل لاس د کوثر په غاړه ور واچوه...
خوږې چې دا کار وکړ، نو بیا شینکې په یو څه مسخرو ورته ووېل:
دغسې شاباس، اوس به دریواړه په چیندرو ځو!
دې خبرې خوږې ته خوند ورنه کړ. هغې هڅه کوله، چې خپل درد پټ کړي؛ نو شینکۍ ته یې کړل:
ـ اوس مې پښه دومره درد نه کوي!
دریواړه چې لږ روانې شوې، بیا کوثر ورو له ځان سره وویل«خود به درد نه کوي؛ اخر ټول زور دې په موږ اچولی!»
شینکۍ وډاره شوه، چې بیا یې خوږې سره جنګ نشي. نو په خندا یې وویل:
ښه دی چې کور دې نږدې دی؛ کنه موږ دې مړې کولو... هههها!
د شینکۍ خندا، خوږې ته خوند ور نکړ، نو په ګیله او ناز یې ووېل:
ډېرې خبرې مه کوئ! ملګرتیا نو د څه لپاره وي!؟
شینکۍ هم په یو څه مسخرو، ددې پېښې وکړې:
رښتیا وایې! ملګرې ددې لپاره وي، چې دا اسمان ته وګوري او هغوی پر

دې پام وکړي!
خوړې بد بد ورته وکتل. دې سره دواړه خورلڼې یې خاموشې شوې. لږ شیبه وروسته خوږه بېرته په خندا شوه.

* * *

د مور سترګې چې پر خوړې ولګېدې، نو ډېره وارخطا شوه! بیا شینکۍ ژر وویل:
تروري! خوږه ډېره نه ده ژوبله شوې. موږ هم په لاره ورو ورو راوسته!
دې خبرو سره د خوړې مور له شینکۍ او کوثر نه ډېره مننه وکړه. هغې دواړه خورلڼې او خوږه لور، دریواړه ښکل کړې او ورته یې وویل:
ښې ملګرې خو همداسې وي، چې د تاسو په شان له یو بل سره مرسته کوي...
خو کوثر یې په خبرو کې ور ولوېده:
تروري! خوړې په لاره، د ونو څانګو پسې ټوپونه وهل، هغه شنې تنکۍ څانګې را ماتولې! او موږ ته یې دا هم ویل چې «کلي ته ځي! هلته به په ونو کې وزانګي. او د ونو د ښاخونو په را شکولو به یې ښه سات تېر وي!
مور په چرت کې ولاړه. کوثر زیاته کړه:
تاسې رښتیا کلي ته ځئ!؟
د خوړې مور د کوثر په اوږه لاس کېښود:
هو لورې! کلي ته ځو... خو هر وخت، چې ښوونځیې رخصت شي!
د خوړې له څېرې برېښېدله، چې دې خبرې چندان خوند ورنکړ. مور



دا هم پسې ووېل:
ما خو دمخه خورې ته ويلي ؤ چې د ونو لښتې او ښاخونه به نه ماتوي!
دې سره دريواړه ماشومې نجونې غلې شوې. شينکۍ او کوثر خپلو کې پټ يو بل ته وکتل او د خورې په په اړه يې يو بل ته اشارې وکړې. دې سره مور ووېل:
لورې، ته ښه وايې! هغه هره ورځ له ځان سره يوه ځانگه کور ته راوړي! اوس پوه شوم... نن يې هم په دې خاطر پښه ژوبله شوې. خو درې واړه واورئ: که خوره همداسې د ونو ځانگې ماتوي؛ بيا کلي

ته تګ نشته! بیا ټوله رخصتي دلته په کور کې تېروو!
خوربې کوثر ته بد بد وکتل او بیا یې په لوړه ووېل:
دروغ وایي مورې! هسې مې پښه بنده شوه او ولویدم!
مور د خوربې په تنکیو تازه پاڼو شنه لاسونه هغې ته وروښول:
نو دا لاسونه دې ولې په پاڼو شنه دي؟
ټول غلي شول. څو شېبې د هیچا غږ نه خوت. بیا مور د خوربې لور سترګو ته کتل او هغې ته یې په نرمه لهجه ووېل:
ګوره خوربې، خورلڼې دې درسره څومره مرسته کوي او ته ورته وایې، چې دروغ وایي!
خوره خجالت شوه او په بنده بنده ژبه یې ووېل:
- مو مو مورې زه...
له دې سره خوره بیرته غلې شوه او سر یې کښته واچاوه.
دې وخت کې د هغې مور له کوثر او شینکۍ مننه وکړه. خوره هم له خپلې خبرې پښیمانه شوه او له یو څه شرم سره یې دواړو همزولو \ته غاړه ورکړه. څو شېبې وروسته، کوثر او شینکۍ د خوربې له کوره په وتو شوې.
د خوربې مور، چې د کور په کار لګیا وه، کوثر او شینکۍ پسې غږ وکړ:
وه نجونو! لاره کې پرځان پام کوئ...څه پخیر لاړې شئ!
د خوربې د ښوونځي رخصتۍ ته لا څو ورځې پاتې وې! مور یې ورته بیا خپل شرطونه تازه کړل. هغې ورته ووېل:
ګوره خوربې لورې! که ګلان شکوې او درسونه دې سم نه وایې؛ بیا کلي ته تګ نشته!
خوره چې بیا یې د کلي هوا په زړه لګېدلې وه، له مور سره یې ټینګه

ژمنــه وکــړه، چــې هــم بــه درس وايــي او هــم بــه د ونــو څانگــو تــه لاس نــه اچــوي!
ورځــې شــپې تېرېــدې. دې سره د خــوږې ازموينــې راورســېدې. هغــې ښــه درس وايــه. دوه، درې ازموينــو کــې يــې ښــې پارچــې حــل کــړې. دې سره يــې مــور ښــه ورتــه خوشــحاله وه، او زړه کــې يــې ځانتــه داســې گــوړې «ځــه ښــه شــول، خــوږې مــې خــبرې ښــې پــه غــوږ کــې کلــک نيــولې!» خــو لــه دې نــه وه خــبره، چــې خــوږه لا هــم چــې ونــې او شــنه بوټــي ووينــي؛ نــو پيريــان يــې ورتــه نيــسي. اوس يــې خورلڼــو هــم سر پســې نــه گرځــاوه. دې سره د خــوږې مــور فکــر کاوه، چــې هغــه نــور د ونــو څانگــې نــه ماتــوي!
بلــه ورځ د خــوږې ازموينــې پــای تــه ورســېدې. مــور يــې د خــوږې سره کــړې ژمنــه عمــلي کــړه. هماغــه ؤ، چــې دواړه ســهار وختــي د کلي پــه لــور روانــې شــوې.
د کلي موټــر چــې حرکــت وکــړ، نــو پيــل کــې خــوږې خپلــه مــور پــه ډېــرو پوښــتنو کولــو د چــا خــبره ليونــۍ کــړه! مــور يــې چــې پــه تنــگ شــوه، نــو نــور يــې يــوې د هغــې هــرې پوښــتنې تــه ځــواب نــه ورکاوه. څــو ځلــه يــې ورتــه وويــل:
لورې! غلې شه! اوس چې ورسيدو؛ نو هرڅه به پخپلو سترگو ووينې!
خو د خوږې زړه نه آرامېده. دې سره د کلي لاره هم ښه اوږده شوه.
کلي تــه نــرى ســړک تــاو شــوى ؤ. د کليــوالي ســړک غــاړې تــه روان لښــتي پــر غــاړه گڼــې ونــې، د بــاد پــه لاســونو کــې تاوېــدې را تاوېــدې. کښــته بيــا لښــتي کــې د روانــو اوبــو لــه څپــو عجيبــه غــږ پورتــه کېــده. لانــدې د اوبــو شــوړس، پــاس د ونــو پــه څانگــو او ښــاخونو کــې د مرغيــو چونېدلــو، عجيبــه جادويــي موســيقي جــوړه کــړې وه. خــوږې ورو ورو، خپلــې يــادې کــړې



سـندرې، لـه دې موسـيقۍ سره، ځـان سره بدرګـه کولـې. د غبرونـو لـه دې ښايسـته ترکيـب سره، ونـو او بوټـو هـم کـرار کـرار نڅـل.

* * *

ناڅاپـه د کلي پـه فضـا کې يـو ناڅاپـه خامـوشي خپـره شـوه! خـوږه حيرانـه شـوه، چـې پـه دې کلي څـه وشـول! د ونـو موسـيقي غلـې شـوه، ونـو خپـل لاسـونه ټـول کـړل. هغـو خپلـې لـه پاڼـو ډکـې لمنـې د اتـڼ لـه ميدانونـو راټولـې کـړې. مرغانـو سرونـه پـه خپلـو بڼکـو کـې دننـه کـړل: تـا بـه ويـل ټـول غبرونـه پـه سـتونو کـې يـخ ووهـل!
خـوږه حيرانـه وه چـې څـو شـېبې دمخـه خـو دې کلي کـې شـور او خوښـي وه! د ونـو او بوټـو ترمنـځ څومـره مينـه وه! کلـی څومـره ښـه خوشـحاله ښـکاريده! هغـې زړه کـې ويـل «وه خدايـه! پـه دې کلي څـه وشـول!؟»
خـوږه د ګڼـو ونـو ترمنـځ پـه نـرۍ لاره پـه ډېـر احتيـاط روانـه وه. هغـې يـوې او بلـې خـوا تـه کتـل. بيـا يـې زړه تنـګ شـو؛ چيغـه يـې کـړه:
ولـې غلـې شـوئ؟ زه سـتاسې لپـاره دلتـه راغلـې يـم! تاسـې ولـې داسـې چـوپ يـئ؟
خـوږې، چـې څومـره غـوږ ونيـو، چـا ځـواب نـه ورکاوه. ټـول غـلي ول. داسـې ښـکاريده، لکـه ټـول کلي کـې چـې سـاه نـه وي! ځـای ځـای د کليوالـو د کورونـو ديوالونـه ښـکاريدل. پـه کلي کـې عجيبـه چوپتيـا وزرې غوړولـې وې. خـوږه دې چوپتيـا شـېبه پـه شـېبه لا پـه غوسـه کولـه. هغـې پـه ډېـره غوسـه، د ونـو کوچنـي ښـاخونه راوشـکول او پـه قهـر يـې تـر شـا غورځـول. د خـوږې لاسـونه پـه وړو لښـتو او شـنو پاڼـو ډک ول. هغـې ماتـو لښـتو او

ټوک ټوک پاڼو ته کتل او ځان سره یې په چیغو چیغو کې ویل:
ـ خبرې وکړئ! خبرې وکړئ راسره!!
خو هېچا هم خبرې نه کولې! خوږې په وارخطایۍ لښتي ته ور وکتل. اوبه لا هماغسې بې ساه روانې وې. بیا هغې ځو شېبې ځان له وېرې غلی نیولی ؤ. کتل یې چې اوبه د شګو په ښویو سینو باندې خاموشې ښوییږي! خوږې په قهر قهر د ونې تازه څانګې را شکولې او دې سره به ونه له درده، کږه وږه شوه! خو هیڅ شي غږ نه کاوه، چا هم څه نه ویل.
په دې کلي کې د نورو مرغانو او الوتونکو په مینځ کې طوطیانوهم ژوند کاوه. خو یو طوطي ؤ، چې تر نورو الوتونکو یو څه زړور ؤ. دغه عجیبه طوطي له کلیوالو سره په کروندو او کورونو کې وخت تېر کړی ؤ.
عجیبه طوطی د انسانانو په ژبه پوهېده! دغه طوطي د انسانانو له مهربانۍ او ظلم، دواړو ښه خبر ؤ. خوږه، له غوسې سره او شنه حیرانه ولاړه وه. دې وخت کې یوازې ددغه طوطي پام خوږې ته ورواوښت.
هغه نورو مرغانو ته وویل:
له خوږې سره باید خبرې وکړو.
خو ټول الوتونکي او ونې له خوږې وېرېدل او چا دې کار ته زړه ښه نه کړ. طوطي ته بله لاره پیدا نشوه؛ نو پخپله ورکښته شو. طوطي د لښتي په یوه غاړه کښېناست او پر خوږې یې غږ کړ:
سلام خوږې سلام!
خوږه وارخطا شوه او په غوسه یې شاته وکتل:
څوک یې څ...څځځ..څوووک یې ته ...؟
خوږه ډېره وېرېدلې وه. دې سره په اسمان کې تورې وریځې راتاو شوې. اوس نو یو یو څاڅکی را اورېده. طوطي خپله مښوکه وځنډله.



ـ نه گورې، زه طوطي يم! دادی نه گورې، زه د ويالې په دې غاړه ولاړ يم!
خوږې په بېړه بېړه د ويالې شاوخوا له خپل ماشوم نظره تېره کړه. او په طوطي يې چې سترګې ولګېدې؛ نو يو څه يې ويره کمه شوه. بيايې په رېږدېدلي آواز له طوطي سره خپل غم شريک کړ:
طوطي، دا ټول ولې داسې چوپ دي؟
طوطي وويل:
دوی ټول ويرولي. ويرې ټول گونگيان کړل!
خوږې په حيرانۍ وويل:
ـ ما... ولې ما دوی سره څه بد کړي؟
طوطي خپل وزرونه خلاص کړل د ويالې دې غاړې ته راولوت. بيا يې مخ خوږې ته را واړاوه:
ـ ته د ونو څانگې ماتوې، ونې ډېرې درنه خفه دي!
ددې خبرې له اورېدلو سره د خوږې له گوتو وړې لښتې او پاڼې پر زمکه ولوېدې.
دې سره خوږه سسته شوه او ورو په زمکه کښېناسته. هغې خپل دواړه غوږونه کلک په لاسونو پټ کړل. طوطي لا هم ورته غږېدو:
ـ ته واوره! له دې تېرې يوې اونۍ راهيسې، د ټول کلي ونې او بوټي په انديښنه کې ول، چې خوږه که راشي؛ نو زموږ سرونه به را پرې کړي. بيا به غږ نه شو وېستای!
طوطي غږېده او دې سره خوږې ته خپله يوه يوه تېروتنه ور يادېدله. تېر کال چې د مېلې لپاره د ښار يوه شنه پارک ته تللې وه، نو د هغه پارک د ډېرو ونو ښاخونه يې مات کړي ؤ. بيا يې د ويالې د غاړې تيرې، په اوبو کې اچولې وې. دا هم ورياد شول، چې مېله کې يې د نورو ماشومانو

بوټان اوبو کې اچولي ؤ. نور ورانی یې هم کړی ؤ! هغې د شنه او زرغون میله ځای نوي نیالګي او بوټي هم له بیخ بیخه راایستلي ؤ!
خوږې ښه شېبه دا ټول ور په زړه کړل. بیا یې په ماته غاړه طوطي ته کړل:
طوطي اوس خو ما هېڅ نه دي کړي! زه خو دا اوس نوې کلي ته راغلم. نو بیا ولې رانه خفه دي ټول؟
طوطي، چې د خوږې حالت څاره، لږ نور هم نږدې ورغای. بیا یې ورته وویل:
هو، خو دوی ستا له دې بد عادت نه خبرې دي؛ ځکه خفه دي.
د خوږې تندي کې ګونځې پیدا شوې، سترګې یې ببرته له غوسې ډکې شوې:
ښه نو دوی چې له ما خفه دي، زه هم ورسره همداسې کوم!
خوږې په مخامخ لویه ونه ور منډه کړه. هلته یې یوه لوی ښاخ ته ورټوپ کړل او په غوسه یې وویل:
صبر کوه! اوس به درسره ګورم! له ما خفه یې... ها وایه، له ما خفه یې؟
طوطي چې د خوږې دا حالت او چلند ولید؛ نو ډېر وارخطا شو او په منډه د ونې سر ته والوت. او له پاسه یې پر خوږې ور ناري کړې:
ـ خوږې! څه کوې... ګوره ژوبلېږې!
خوږې یې خبره وا نهورېده! دې سره ښاخ خوږه له ځان سره پورته کړه. خوږې په هوا کې چیغې پیل کړې:
خوشي مې کړه! وی موري! هله خلاصه مې کړه، خلاصه مې کړه، خلاصه مې...کړه...!



مور، چې څومره په خوږې غږ کاوه، هغې لا په زوره چيغې وهلې.

***

خوږه د موټر په چوکۍ کې پرته وه. هغه په خوب کې غږېده او چې د مور له بيا بيا غږونو سره يې سترگې وغړولې، لا هم تر کلي لار پاتې وه. دې خوب سره، خوږه ډېره ويرېدلې وه. تا به ويل چې خوب رښتيا دی. او رښتيا هم ؤ، ځکه خوږې په خوب کې خپل کارونه ليدلي ول. چې رښتيا شي، نو خوب د هغې لپاره هېنداره گرځېدلی ؤ. او خوږې په دغه هېنداره کې د خپل خوی او عادت بده نتيجه ليدلې وه!
موټر د غرونو له منځه تېرېده او د غرونو لويې ډبرې، پرښې او لوړ لوړ گاټي، يو په بل پسې د خوږې له سترگو تېرېدل. هغې سترگې سره وموښلې. بيا د موټر په څوکۍ کې راسمه شوه. مور يې څنگ ته ورنږدې کړه، دې پورته ورته وکتل:
مورې ونې؛ خو به له ما نه وي خفه؟
مور يې پرې پوهه شوه چې خپل ناوړه عادتونه يې په خوب کې ليدلي:
نه لورې، ولې به خفه وي! څوک له چا هغه وخت خفه کېږي، چې تاوان ور واړوي!
خوږه چرت کې ولاړه. مور هغه پر ځان ورټينگه کړه او ورته ويې ويل:
پوهېږې، خاله دې، وياړ او ټول به درته ډېر خوشحاله شي.
خوږې پرله پسې پوښتنې کولې:
ـ آيا د ونو څانگې او آزاد مرغان او روانې اوبه به ماته سندرې وايي؟
مور يې ځواب ورکړ:

هو! خود يې وايي! ته او وياړ به په ګډه د هغوی باغ ته ولاړ شئ!
خوږه چې چرت کې تللې وه، د (باغ) نوم له اورېدلو سره مورته په تريو تندي ووېل:
ـ نه! باغ ته نه ځم!!
مور يې په حيرانۍ وپوښتل:
ـ ولې؟
ـ بيا مرغۍ غلې کېږي او ونې هم نڅا نه کوي!
مور يې بېرته د موټر په سيټ تکيه وکړه:
همممم ولې داسې فکر کوې، ستا به ډېر سات تېر شي.
خوږې د خپل خوب په اړه اندېښنه کوله. خوب ورته رښتيا ښکارېده. ځکه دې رښتيا هم له ونو، بوټو سره بد چلند کړی وه.
خوږې نور نو تر کلي پورې بله يوه خبره هم ونکړه. هغه بيخي چوپ ناسته وه! د لارې له اوږدو شېبو سره يې خيالونه وهل.

* * *

دوه دوه نيم ساعته وروسته د کلي سيمې ته ورسېدل. بيا دې سره موټر ښه ساعت د کلي د شنو ونو له منځه روان ؤ. د موټر غږ، د اوبو او مرغيو غږونه تت کړي ول. خوږې به نېږدې ؤ چيغه کړي «موټر ودروئ، موټر ودروئ!» خو بيا به وریاد شول، چې د ترورۍ کور ته لا نه دي رسېدلي؛ نو غږ به يې نه کاوه.
د خوږې ماشوم زړه د ژوند هغو رنګارنګ غږونو ته الوته، چې د اوبو او پاڼو او آزادو مرغانو له حرکت څخه جوړېدل. هغې دغو غږونو ته

غوړونــه څــک کــړي ؤ. خــو د موټــر مصنوعــي غــږ، د نــورو غږونــو ښــکلا خرابولــه. خــوږې بــه چــې د مرغیــو غــږ لــږ لــږ واورېــد، ســترګې بــه یــې رڼــې شــوې، پــر شــونډو بــه یــې، چــې د اوږدې لارې ګــرد او بــاد ســپېرې کــړې وې، نــرۍ مســکا را خــوره شــوه. دې سره یــې د کلي شــور احســاس کــړ. ورو ورو یــې د خــوب د تجربــې ویــره لــږ څــه کمــه شــوه. خــو لا هــم اندېښــمنه وه! ښــه ؤ، لــږ شــیبه وروســته یــې، موټــر د تــرور کــور تــه نېــږدې ودرېــد. تــرور یــې لا د وختــه د کــور مــخ تــه راوتلــې او د دوی ورتــګ تــه انتظــار ولاړه وه. د خــوږې تــرور سره لــه شــیدو ډک ســطل ؤ. دې سره د خــوږې ســترګې پــه غــوا او خوســکي ولګېــدې، چــې د کــور مخکــې پــه پــړي تــړلي شــوي ؤ. د تــرور ســترګې چــې پخپلــې خــور او خــورزې ولګېــدې، نــو ســطل یــوې خــوا سره کېښــودو او لــه خــور سره پــه تــوده ســتړې مــشي شــوه. او بیــا یــې خــوږه پــه غېــږه کــې ونیولــه، ښــه یــې ښــکل کــړه.

تــرور، خــور او خــورزه ځــان سره کــور تــه دننــه کــړې. پــه لنډو شــیبو کــې د خــوږې تــرور، د غــوا تــازه تــودې کــړې شــیدې د دوی مــخ تــه کېښــودې. د خــوږې لا هــم خپــل خــوب نــه و هېــر شــوی! هغــه پــه اندېښــنه کــې وه. خــوږه نــه پوهېــده، چــې پــه کلي کــې بــه ورسره څــه چلنــد کېــږي!؟. خــوږې خپــل فکرونــه کــول، خــو هــا خــوا یــې د مــور او تــرور ښــه مجلــس تــود ؤ. خــوږه چــې د اوږدو لارو مــزل ســتړې کــړې وه، ســترګې یــې پټــې شــوې، تــرور یــې کوچنــی شــین بالښــت راواخیســت او د هغــې تــر ماشــوم سر لانــدې یــې کېښــود.

خــوږه تــر ماښــامه ویــده وه. بیــا چــې لــه خوبــه یــوه ســترګه راویښــه شــوه، ویــاړ راغلــی ؤ. خــوږه لا هــم لــه خوبــه وه. د ماښــام خــوب خــو هســې هــم د انســان فکــر خرابــوي او خــوږه خــو یــې تــرور لــه بیرونــه هــم را ګرځولــې وه. نــو پــه طبعــه ناســازه برېښــیده.

خوږه به د دولس دیارلسو کلونو وه او ویاړ تر هغې یو څه کشر ؤ. خو دواړه لکه همزولي داسې ښکارېدل! سپینکۍ خوږه په تن ډنګره او له قده هم برابره وه؛ خو وړوکی ویاړ د هغې په قد ؤ. ویاړ د خوږې راتګ ته ډېر خوشحاله ؤ. اخر کور ته یې له ښاره میلمنه راغلې وه! بل دا چې خوږه یې د ساعتېرۍ او شوخۍ ښه ملګرې وه. خو د خوږې طبعه خړه پړه وه. هغې د ترور له ټولو مهربانیو سره سره، لا هم تندی تریو نیولی ؤ. هغې ویاړ ته کاږه کاږه کتل. په اوله شپه هغې له ویاړ سره یوه خبره هم ونه کړه.

***

خوږه سبایي وختي له خوبه راویښه شوه. په مور یې غږ وکړ چې د باندې یې بوځي! مور یې ورته وویل:

ـ ته ویده شه لا ډېر وختي دی... نه ګورې هېڅوک نه دي را ویښ شوي!

خوږې مور ته ورو او په ګیله وویل:

خو ما ته خوب نه راځي!

مور یې لا په خپل ځای کې پرته او هغې ته یې شا ور اړولې وه، داسې یې ځواب ورکړ:

همداسې ځان غلی کړه، نور له خوبه مه باسه!

خوږه غلې شوه او د خوب په بستر کې غځېدلې او ځان سره یې فکر کاوه، چې کله به د باندې ووځي!

نیم ساعت وروسته ترور راغله او د هغې د پښو د غږ په اورېدو سره،

خوږه دستي لـه ځايـه را پورتـه شـوه. تـرور خـورزه لـه ځـان سره د بانـدې وويسـته. دا وخـت ويـاړ د برنـډې پـه ځنـډه ولاړ ؤ. د هغـه مـخ او لاسـونه لامـده ول او اوس يـې هـم لـه زنـې يـې څاڅکـې څاڅکـې اوبـه څڅېدلـې. ويـاړ لاسـونه تـر مړونـدو لانـده کـړي ول. خـوږه هغـه تـه نـږدې ورغلـه:

وياړه! نيم مخ دې وچ پاتې دی.

ويـاړ لکـه پيشـو زر زر خپـل مـخ بانـدې گوتـې تېـرې کـړې، وارخطـا يـې مـور تـه وکتـل:

کوم دی... دا اوس مې پاک پرېوی... کنه ادې؟

خـوږه ښـه ورنېـږدې شـوه. د ويـاړ پـه نيـم وچ مـخ يـې ماشـوم لاس تېـر کـړ. خـوږه نـوره هـم ډاډمنـه شـوه، چـې نيـم مـخ يـې نـه دی مينځلـی. هغـه بېرتـه پـه شـا لاړه. او ورتـه کـړل يـې:

مخ دې خيرن دی ما ته يې څه!

وياړ ته دې خبرې سم زور ورکړ. بيا يې په غوسه خوږه ځواب کړه:

ته به خيرنه وې، وايم اوس مې پرېمينځه!

مور په وياړ ور غږ کړ:

وياړه بچيه! ميلمنې سره څوک داسې خبرې نه کوي!

وياړ په گيله مور ته وويل:

خو دا ما ته خيرن وايي!

دې سره خـوږې پـه هغـه سـترگې راوويسـتې او بيـا يـې ويـاړ تـه کاږه کاږه وکتـل:

دروغ وايي تروري، ما نه دي ويلي!

ترور يې د دواړو دعوې دنگلې ور بندې کړې:

ونيسـه خـوږې لـورې لاس مـخ دې پرېمينځـه، چـې چـای سـړېږي... هلـئ



دواړه ژر کوئ، چې بیا یو ځای باغ ته ولاړ شئ!
ویاړ چې خوږې ته یې ډېره غوسه راغلې وه، په مور یې ورغږ کړ:
زه یې نه راسره بیایم!
مور یې په غوسه شوه:
ویاړه، درجګه شم؟
خوږې چې خپله ترور ویاړ ته په غوسه ولیده، نو په ناز شوه:

ګوره ترورې نه مې بیایې!

ترور يې هم خپل زوی وراټه:

بد کوې! زه دې بیایم... اوس راځه کوټې ته!

خورې او ویاړ په شنه سهار جنګ وکړ او په اخر کې يې يو بل ته خولې ښې کړې ورې کړې. او بیا چای خوړلو لپاره خونې ته دننه شول. ټولو يو ځای سهار چای وڅښه. له هغې وروسته ترور غوا را خلاصه کړه، خورې ته يې ور غبر کړ. دې سره خوره له خوشحالۍ الوته.

خوره له ترور سره د باغ په لور روانه شوه. لاره کې خورې غوا ته حیران حیران کتل او بیا يې ترور وپوښتله:

ترورې! غوا دې څه نومېږي؟

ترور وخندل:

ګلابو نومېږي. دا نوم ویاړ ورباندې ایښی.

خورې ته د ویاړ نوم اخستلو خوند ورنه کړ:

امممم ګلابو!

بیا يې ورو ځان سره کړل «ککړ مخي ښه نوم پرې ایښی!»

ترور يې خبره سمه وا نه وریده؛ نو ورباندې غږ يې کړ:

ـ خورې! ما ته دې څه وویل؟

خوره وارخطا شوه، چې ترور د (ککړ مخي) نوم نه وي اورېدلای!؟ هغې په وارخطايۍ ترور ته ځواب ورکړ:

نه نه! ماویل ښه نوم يې پرې ایښی!

غوا خپل غوږونه ټک وهل او بیا يې په ډبله ژبه د خپلې ډبلې پزې په څټلو شوه! خورې د ګلابو پزې څټلو ته وخندل او له څنګه يې روانه شوه.

د خـوږې بـد عـادت خـو مـو پـه یـاد دی؟ هغـې اوس هـم د بـاغ پـه تنګـه نـرۍ لاره کـې د څانګـو نریـو غـاړو تـه لاسـونه وراچـول.
خـوږې ټولـه لار کـې وړې وړې، نـرۍ نـرۍ لښـتې راماتولـې او لاره کـې یـې غورځولـې او د پاسـه یـې وربانـدې پـه ټوپـو تېرېـده. اوس نـو خـوږه لـه تـرور څخـه څـو ګامـه مختـه شـوې وه او هغـه لـه څټـه ورپسـې ورو ورو را روانـه وه.
تـرور د غـوا پـړۍ نیولـې ؤ. غـوا د خـوږې دې کار تـه ښـه پـام نیولـی ؤ! غـوا خـوږه پخپلوغټـو غټـو سـترګو څارلـه او د خـوږې پـه لاسـو ماتـې شـوې تنکـۍ، خـوږې څانګـې یـې، پـه غټـو شـونډانو را ټولولـې او خوړلـې.
بـاغ سره نـږدې یـو وړ لښـتۍ روان ؤ. د لښـتي پـر غـاړه دوې برګـې سـېرلۍ پـه ټوپکونـو وې. سـېرلیو بـه بیـا د لښـتي روانـې خـوږې اوبـه څښـلې او دې سره یـې وړوکـې وړوکـې لکـۍ هـوا کـې خوځولـې. خـوږې چـې تـر اوسـه دومـره وړې وړې سـېرلۍ نـه وې لیدلـې، هغـو تـه حیرانـه پاتـې وه! د تـرور چـې ور پـام شـو نـو پـرې غـږ یـې کـړ:
خوږې! ځه ځه چې لمر تود دی... مه ودرېږه، هله لورې!
د خـوږې سـترګې پـه شـوخو سـېرلیو سریـښ شـوې وې. تـرور تـه یـې «ښـه!» وویـل. روانـه شـوه؛ خـو شـا شـا تـه یـې کتـل او پـه دې کتـو کتـو کـې زړه نـازړه لـه سـیرلیو را لېـرې کېـده.
پـه بـاغ کـې لویـې لویـې ونـې ولاړې وې. تـرور ګلابـو غـوا د بـاغ پـه یـوه څنـډه کـې وتړلـه. بېرتـه راغلـه او تـر ونـو لانـدې یـې پـه ویـاړ پسـې کتـل. خـو هغـه راښـکاره نشـو! بیـا یـې د ټیکـري پیڅکـه ورسـمه کـړه. او ویـاړ پیـدا کولـو لپـاره د ونـو لـه مینځـه ووتـه.
د بـاغ ترخنـګ لـوی لـوی پټـي ؤ. پـه دې پټـو کـې زنګـون زنګـون غنـم ولاړ ؤ. د غنمـو پـر ډکـو وږو نـرۍ شـمال لګیـده، او دې سره عجیبـه نـرم غـږ پورتـه

کېده. تا بـه وېل، چې يـو يـو وړی، څـه شی وايـي، څـه شی يـادوي. او دې سره خـوړه د خيـال پـه وزرو والوتـه.

تـرور ويـاړ پسـې يـوه او بلـه خـوا وکتـل. خـو ويـاړ يـې هېـڅ خـوا ونـه ليـد! اخـر يـې لـه ځـان سره ورو وويـل:

دا هلک څه شو؟

زړه کـې يـې تېـره شـوه، چـې بيـا بـه د رود غـاړې تـه نـه وي تللـی! يـو څـه انديښـنې واخسـته! سـودا يـې شـوه. ذهـن کـې همـدا گرځېـدل چـې «هغـه خـو ماشـوم دی. خـدای مـه کـړه رود کـې ونـه لوېـږي!» لـه دې فکـر سره يـې تنـدی تريـو شـو.

خـوړه چـې د وړو د ځانگـړي غـږ او نڅـاه لـه عجيبـه مـوج سره، د خيـال پـه وزرو، خـدای خـبر چېـرې تللـې وه، ناڅاپـه يـې تـرورۍ تـه ورپـام شـو. خـوړه پـوه شـوه، چـې تـرور د څـه شي لټـه کـوي! خـوړې ووېـل:

ترورې، څه پسې گورې؟

ترور په انديښمن غږ ځواب ورکړ:

وياړ پسې... نه پوهېږم چېرې غيب شو!

خـوړه د تـرور پـه انديښـنه پـوه نـه شـوه. دې هـم پـه لـوی شـنه فصـل کـې شـاوخوا وکتـل: کليـوال پـه لـرې پټيـو کـې اختـه ؤ، چـا پـه څپـر غنـم ميـدول، چـا لـو کاوه او چـا بيـا د رشقو گاټـي جـوړول.

خـوړې تـه دې منظـرې سـخت خونـد ورکـړ. دې کـې د هغـې پـام د بـاغ د څنـگ پټـي رشـقې تـه ورواوښـت! هغـه پـه منډو هلتـه ورسـېده او سمدسـتي د رشـقې پـه فصـل ورگـډه شـوه. رشـقه يـې پـه چينـدو غوبـل کـړه او همداسـې پولـې تـه ورسـېده.

د پولـې هـا خـوا لښـتی ؤ. پـه لښـتي کـې نـرۍ اوبـه روانـې وې. اوبـو تـه

ورټیټه شوه او لاس یې پکې وواهه. اوبه د لمر شغلو تودې کړې وې. او د اوبو څپو او بیا په لاسونو د شمال لګېدلو مچوګانو، عجیبه خوند جوړاوه. هغې ځان سره وخندل او بیا یې ژر شاوخوا وکتل. ګوري، چې ترور د رشقې په پټي کې لګیا ده! د ترور سور کتاني ټیکرى له ورایه ښکارېده. د هغې په لیدو یې زړه بیرته ډاډه شو. خوړې د خپلو سپینو څپلیو بندونه خلاص کړل. او څپلې یې د رشقې په پوله ګوزار کړې او بېرته لښتي ته ورښکته شوه.
ښه شېبه یې د لښتي اوبو کې لوبې وکړې. بیا شوق واخیسته اوبو کې ودرېده او د ونې د ښاخونو په تاوولو او را کاږلو شوه. دې مستیو کې یې ویښتان د لښتي د غاړې د آلو ونې په ګڼو ښاخونو کې بند شول. خوړې زور واهه، خو ویښتان یې بند پاتې ؤ. هغه ښه شېبه په عصبي حالت لګیا وه، خو ویښتان یې ښاخونو داسې ټینګ نیولي ؤ، چې تا به وېل دا د ونې لاسونه دي او د خوړې ویښتان نه خوشې کوي! او دې سره خوړه په ژړا شوه:
ـ اخخخخ، ویښتان مې!
چیغو ګټه نه لرله. هغې پورته ښاخ ته وکتل او دې سره یې سترګې غټې غټې راووتې. پام یې شو، چې ډېره پورته ختلې ده. ډېر کوښښ یې وکړ چې خپل ویښتان راخلاص کړي؛ خو خلاص یې نشواى کړى، نو یې چیغې کړې:
ـ تروري! اله ترورجانې!
د خوړې ترور ورنه لرې وه، غږ یې نه ور رسېد. دا ښه وېرېدلې وه. ښاخونو یې ویښتان کلک نیولي ؤ او نه یې خوشي کول. خوړې ته په دې وخت کې خپل خوب ور په یاد شو. نو یې د الوګانو ونې ته زارۍ

شروع کړې! خو ونې يې وېښتان هېڅ نه خوشې کول. خوږې شکه وبلې، چې ونه ژوندی موجود دی او دا يې په څه جرم ټينګه نيولې! هغه همداسې د ونو په ښاخونو پورې ترلې پاتې شوه. د ترور هېڅ درک نه ؤ.

* * *

يو وخت خوږې ټکان وخوړ. بيرته را په سد شوه، چې وېښتان يې د ونې په ښاخونو کې ټينګ بند شوي! هغه حيرانه وه چې څه وکړي!؟ دې وخت کې ګوري چې طوطي راغی. خوږه د طوطي په ليدو بيخي حيرانه شوه. او دې سره ښه ووېرېده. ځکه دې په خوب کې ليدلي ؤ، چې ونه يې په ښاخونو کې پورته جګوي.
اوس چې طوطي هم راغی؛ نو بيخي يې وېره زياته شوه. دې سم له واره طوطي ته زارۍ پيل کړې:
طوطي! ما خلاصه کړه! بيا به ونو بوټو ته زيان نه رسوم... خير دی ما خوشې کړه!
طوطي ورته ډاډ ورکړ:
انديښنه مه کوه، زه به دې وېښتان خلاص کړم!
طوطي د ونې هغو ښاخونو ته راوالوت چې د خوږې وېښتان پکې بند و.
اوس نو طوطي لګيا ؤ او ورو ورو يې پخپله مښوکه د خوږې يو يو تاره وېښته له ښاخونو را خلاصاوه او بيا يې خوږې ته وويل:
ستا وېښتان ډېر پاک او ښکلي دي!
خوږې په خوشحالۍ ورته وويل:
مننه طوطي، ته هم ډېر ښکلی او هم مهربانه يې!



طوطي لا هم لېګا ؤ او د وېښتانو يو يو تار يې له ښاخونو را خلاصاوه.
هغه خپل دې کار سره خوږې ته وويل:
هرڅوک چې مهربانه وي- هغه بنيادم وي يا بل ژوندی موجود- تر ټولو ښکلي دي.
خوږې ته خپل بد عادتونه ورياد شول:
ـ طوطي زه ډېره بده يم کنه!؟
ـ نه نه، ته ډېره ښه يې، خو..
ـ «خو!» خو يعني څه طوطي؟
ـ ونې او بوټي درنه خفه دي! ګوره چې اوس يې څنګه کلکه نيولې يې!
دې سره د خوږې پام شو، چې د ونې نرى ښاخ يې ټينګ نيولی دی.
هغې داسې ورو د ونې ښاخ خوشې کړ، چې تا به وېل د څو مېاشتني ماشوم نازک لاس دی. او بيا يې طوطي ته وويل:
که نن ته نه وی راغلی، زما به يو تار وېښته هم نه و را پاتې!
طوطي ځواب ورکړ:
سمه ده. نن زه راغلم؛ خو که ته له ونو سره خپل دا بد عادت پرېنږدې؛ نو ونې به له تا داسې خپل قصد اخلي!
خوږې څه ونه ويل. خو ښکارېده چې ډېره شرمېدلې ده. طوطي يې ټول وېښتان ورخلاص کړل او بيا پخپله مخه والوت. خوږې ورپسې غږ کړ:
طوطي مننه! ته ډېر ښکلی او مهربان موجود يې!
خوږه بېرته غلې شوه. بيا لاندې ورو ورو په لښتي کې مخ په ښته روانه شوه. اوس يې نو وېښتان له ښاخونو را خلاص شول. خو دې وخت کې درب شو. ورسره اوبه باد باد شوې، د خوږې غږ ورک شو.

***

یو وخت ؤ، چې خوږه یې ترور ته ورپه یاد شوه! ترور شاوخوا وکتل. خوږه نه لېدل کېده! هغه وارخطا شوه. له ځایه را ولاړه شوه. ښه یې شاوخوا وکتل؛ خو خوږه هېڅ لوري ته نه معلومېده!
ترور د لښتي غاړې ته راغله. ګوري، چې پر پوله، د خوږې سپینې څپلۍ پرتې دي! ترور لښتي ته وکتل. د لښتي وچو غاړو ته اوبه را باد شوې وې. ترور له دې سره مخ پورته روانه شوه. هغه سخته وارخطا شوې وه او له ځان سره یې کړل: «وی وی نجلۍ! زه څه درسره وګړم!؟ راغلې نه وې، بیا دې سرخوږی جوړ کړ!!»
ترور په پوله باندې درې څلور پښې وړاندې لاړه، چې د نږدې باغ د الوګانو له ګڼو ونو، د خوږې ټیټ غږ یې تر غوږه شو. ترور ګامونه چټک کړل او نعره یې کړه:
خوږې! وه لورې چېرې یې؟
خوږې، چې د ترور غږ واورېده، نعرې یې کړې:
- دا یم تروري!
- لښتي کې یې؟
د لښتي د اوبو چړپا خته. خوږې په ستړیا غږ وکړ:
- هو تروري!
- نو راووځه؛ څه کوې هلته؟
لږ شیبه وروسته خوږه په لامدو خیشتو کالیو کې له ببر سر سره، د ونو له مینځه راووته! دې حالت یې ترور حیرانه کړه:
- دا په څه حال یې وه نجلۍ؟



ـ ولوېدم ترورې!
ـ ژوبله شوې خو به نه یې؟
خورې چې پښه یې ګروله، په ټیټ غږ ځواب ورکړ:
ـ نه، ښه یم!
ـ راځه چې ګلابو مې پټې کې پرېښې.
خورې ورو غږ پسې وکړ:
-ترورې څپلۍ مې..
ـ راځه هلته په پوله پرتې دي!
ترور د خورې څپلۍ ورکړې او ورته یې وویل:
ځو شیبې دلته لمر ته کښېنه، چې جامې دې وچې شي!
خوره اوس لا ډېره په فکر کې ډوبه وه. هغې هرڅه شاوخوا شنه فصل ته وکتل؛ خو طوطي یې تر سترګو نه شو!
خورې لا هم شاوخوا کتل او احساس یې دا ؤ، چې طوطي به خامخا دې شاوخوا کې وي!
اخر د خورې صبر پای ته ورسېد، له پولې را پورته شوه. بیا د باغ خوا ته ولاړه. دې وخت کې د خورې د ونو لویو ښاخونو ته پام شو. خو ها خوا یې هم چې هرڅه وکتل، په طوطي یې سترګې ونه لګېدې! د طوطي په دې لټه کې ورو ورو، خورې ته یو بل فکر پیدا شو: د باغ په یوه کنج کې، د نرۍ لارې پر سر، د توتانو دوې لوېې ونې ولاړې وې، چې ښاخونه یې نیغ لارې ته را وتلي ؤ. دې سره خورې ته د شینکۍ خبره وریاده شوه: «ښه خورې، ته به په کلي کې ښه ډېره وزانګې!»
دې سره د خورې فکر کې عجیبه هوس پیدا شو. هغې ځان سره جوړه کړه، چې په دې ونو به ښه زانګو جوړه کړي! له دې سره یې د طوطي

خبرې له یاده ووتې او خپلو هوسونو په ټوپو کړه. هغې ترور ته ورغږ کړ:

تروري! دې ونو کې راته ټال اچوې؟

ترور يې په نه زړه ورته «هو!» وويل؛ خو ور پسې يې زياته کړه:

ټال به مې جوړکړی ؤ، خو خدای مه کړه راونه لوېږې. بيا به ژوبله شې!

خوږې زارۍ شروع کړې:

نه ژوبلېږم! خير دی ټال راته واچوه!

ترور د ماشومې خورزې زاريو اړ کړه، چې نظر بدل کړي. نو ورته ويې ويل:

ښه سمه ده. خو صبر چې ويار را پيدا شي، هغه به ټال درته واچوي!

خوږې، چې د ترور د زاړه کتاني ټيکري خنډه يې ټينګه نيولې وه، هغه يې خوشې کړه. او دې سره يې عاجزه څېره، سملاسي قهرجنه شوه. او په قهر يې وويل!

هغه يې نه راته جوړوي! ودې نه ليده، سهار يې هم راسره جنګ وکړ!

ترور خوږې ته ناز ورکړ:

خير دی لورې، مه ترې خفه کېږه. زه ورته وايم چې بيا درسره جنګ ونکړي!

ترور خوږه يو څه راضي کړه. خو لږ ځند وروسته بيا د ټال اچوولو لپاره د پرې په فکر کې شوه!

همممم، نو پړی به له کومه شي تروري؟

ترور يې د لاس په اشاره، د باغ په يوه کونج کې، يوه کوټه وروښوده:

-هغه خونه خو وينې... هلته يو پړی شته...خو ته هلته تلای شې!؟

-هو، ولې نشم تلای...داده ګوره!
دې خبرې سره خوږې، چې سترګې يې له خوښۍ او شوخۍ ځلېدې، د خونې په لور په منډو شوه:
دادی زه ورځم، پړی راوړم!
ترور يې پسې غږ کړ:
مه ځه! هلته تياره ده... ته نابلده يې، جامې به دې خيرنې شي!
خوږې د ترور خبرو ته هېڅ غوږ کښېنښود او په منډو منډو د باغ منځ ته ورسېده. بيا يې مخ د ترور په لور ور واړاوه او په بې پروايۍ يې ځواب ورکړ:
جامو ته مې پام دی، نه يې خيرنوم ترورې!
ترور څو شېبې خوږه پسې کتل. بيا يې لور را واخيست او د ګندنې پټې په لور روانه شوه.

* * *

خوږې د زړې خونې ور ورټيل واهه. په وره د غوړيو د پيپانو رنګه وسپينيزې پترې ور ميخ شوې وې. او دا پترې د بارانونو له امله، ټولې زنګو وهلې وې.
دننه تياره برېښېده؛ خو ښه يخه هوا ترې را لګېده. خوږې سر يو څه ټيټ کړ او ورو يې دننه ور وکتل: دننه لا ډېره تياره وه!
که څه هم، چې زړې خونې دوې وړې کړکۍ درلودې، خو د هغو مخه د ونو لويو په پاڼو پټو ښاخونو نيولې وه. لږ يې دننه قدم ورواخيست، د خونې دننه بيخي تياره وه. خوږه چې څو ګامه وړاندې لاړه، يو دم درز شو!

د بیـل او لرګیـو د لوېدلـو لـه غـږ سره، د خـوږې چیغـې هـم پورتـه شـوې. تـرور چـې د بـاغ پـه بـل کنج کې، لـه پټـې نـه ګندنـه را ریبلـه، هکـه حیرانـه شـوه! پـه زوره زوره یـې لـه ځـان سره کلمـه ووېلـه. د هغـې هډونـه هـم یـو څـه را زیـږه شـول. هغـه نـه پوهېـده، چـې دا د څـه شي غـږ ؤ! هغـې حیـران حیـران دا خـوا هـا خـوا وکتـل؛ خـو هیـڅ پـوه نشـوه، چـې څـه پېـښ شـوي؟ ناڅاپـه خـوږه ور پـه یـاد شـوه:

وی، مخ مې تور شو! دا څه را وشول؟... خوږې، وه خوږې!

تـرور پـه یـوه سـاه ځـان د بـاغ د کونـج دغـې خونـې تـه را ورسـاوه. هغـې چـې ور ورو پـورې واهـه، خـوږه لـه وره سره پرتـه وه او دواړه لاسـونه یـې سـترګو تـه نیـولي او همداسـې یـې چیغـې وهـې. د تـرور سـترګې یـې هـم لمـر اخیسـتې وې، د خونـې دننـه تیـاره فضـا یـې سـمه نشـوای لیـدی. هغـې خـوږه را پورتـه کـړه. تـرور پـه خونـه کـې شـاوخوا وکتـل. د تیـارې خونـې پـه کونـج کـې د مرغیـو لپـاره جـوړه شـوې څېـره (سـیاهي) ولاړه وه. دا یـې د غنمـو لـه فصلـه، د مرغیـو د ترولـو لپـاره جـوړه کـړې وه.

خـوږې چـې تـرور ولیـده، ځـان یـې کلـک ور پـورې سریـښ کـړ. د هغـې زړه سـخت درزېـده. خـو تـرور هغـه ورو ورو ارامـه کـړه او تیـاره خونـه کـې د ډارونکـې ولاړې څېـرې پـه اړه وپوهولـه.

خـوږه لـږ ارامـه شـوه. دې وخـت کـې ویـاړ هـم دیخـوا را پیـدا شـو. هغـه چـې لـه لېـرې د خـوږې چیغـې اورېدلـې وې، بیـا مـخ پـه دې خـوا را پـه منـډو شـوی ؤ. ویـاړ پـه منـډه دغـې تیـارې خونـې تـه ور ننـوت. خـوږې لا هـم پـه سـلګیو وه. مـور یـې ویـاړ تـه ددې پېښـې کیسـه وکـړه. ویـاړ د مسـخرو پـه ډول لـه نـری، مسـکا سره، پـه دبدبـه ووېـل:

نو دې ته چا ویل چې کلان کاري وکړي!

خـوږه خاموشـه ولاړه وه، خـو لا هـم رېږېـده. دې سره ویـاړ مـخ خـوږې تـه واړاوه او ورویـې ووېـل:
ډارنه! دا بیا په ما خاندي!
د ویـاړ دې طعنـې سره، مـور ورتـه سـترګې برګـې کـړې، او پـه اشاره یـې پـوه کـړ چـې چـوپ شي!
خـوږه ډېـره وېرېدلـې وه! دې سره د ویـاړ هـم زړه پـرې وسـوځیده. بیـا یـې خـوږه لـه لاسـه ونیـوه او د بـاغ نـه یـې د بانـدې بوتلـه. خـو لـه ځتـه مـور پـه ویـاړ بانـدې غـږ وکـړ، چـې خـوږه نـوره ونـه ځـوروي!

***

ماشـومان کینـه پـه زړه نـه نیـسي. اوس نـو دا دواړه ماشـومان هـم لکـه خـور او ورور غـاړه پـه غـاړه روان ؤ.
ویـاړ خـوږه د غنمـو د پټیـو خـوا تـه بوتلـه. هلته پـه یوه پولـه ورسره کیناسـته. خـوږه چـې سمه وېرېدلـې وه؛ خـو ځان یـې عادي ښـوده.
خـوږې لاسـونه د غنمـو وږو تـه وغځـول. وږي یـې تـرې رابیـل کـړل. ویـاړ یـې موټـی تـه وکتـل، زړه یـې ؤ، کـوم څـه ورتـه ووایـي! خـو خـوږې لا عـادي حـال نـه درلـود. ویـاړ ځـان سره پـه دې فکـر کـې شـو، چـې د خـوږې د بـد عـادت پرېښـوولو لپـاره کـوم کار وکـړي! هرڅـه یـې چـې پـه ماشـوم ذهـن فشـار راوړ، څـه فکـر یـې سر تـه نـه ورتـه.
داسـې سره ناسـت ول، چـې د خـوږې د مرغیـو شـور او سـندرو تـه ورپـام شـو. او دې سره یـې پرونـی خـوب هـم ور پـه یـاد شـو. ورو یـې لـه ویـاړ سره خـبرې پیـل کـړې:
پوهېږې پرون مې ښنګه خوب لیده؟



ویاړ چې د داسې یوې موضوع پـه مونډلو پسې سرګردانـه و، په خوشـحالۍ یـې ترې وپوښـتل:
څه دې خوب کې ولیدل؟
خـوږې چـې پـه مخامـخ چنارونـو کـې سـترګې ګنډلـې وې، د خپـل لنـډ زیـړ کمیـس لمـن یـې پـه غځیدلـو پښـو سـمه کـړه. بیـا یـې بوخـې ګلابي شـونډې پـه ژبـه لنـدې کـړې او بیـا یـې ویـاړ وپوښـته:
د مرغیو اواز اورې؟
ویـاړ چـې خیـال کـې تللـی ؤ، داسـې ؤ لکـه نـوی یـې چـې دې غږونـو تـه ور پـام شـوی وي. هغـه لـه څـه سـکوت وروسـته «امممـم!» کـړل.
خوږې وویل:
زه چې لږ مخکې راتلـم هلتـه مـې د لښـتي پـر غـاړه د وزې بچیانـې ولیـدې، اوبـه یـې څښـلې!
ویاړ ته خندا ورغله؛ خو ځان یې ټېر کړ. خوږې د ده خندا ته پام شو:
- ولې خاندې؟
ـ د وزې بچیان نه؛ سېرلۍ!
خوږې په قهر ځواب ورکړ:
ښه نو هرڅه چې دي، زما یې نوم نه دی زده!
ویاړ چې دا په قهر ولیده؛ نو جدي شو:
ښه بیا څه وشول؟
خوږې ورغبرګه کړه:
ـ وایم یې خو که ته مې خبرې ته پرېږدې.
ـ ښه څه وایه!
خوږې ادامه ورکړه:



ـ په لاره مې موټر کې خوب لیده، چې د کلي ټول مرغان، ونې او لښتي، زما په لیدو سره چوپ شي! یو هم هیڅ حرکت نه کوي. تا به ویل ټول وچ کاڼي دي... پوهېږې اول هغوی ټولو لکه د انسانانو په شان نخل، سندرې یې ویلې، خو یو دم چوپ شول! ښه ۇ سهار مې د روانو اوبو غږ واورید او اوس ددې مرغیو...

ویاړ یې خبره پرې کړه:

هو دا ټول شیان د انسانانو په شان دي.

خوږې بیخي بله خبره وکړه:

ـ تاسې داسې طوطي لرئ، چې خبرې کوي؟

ـ نه! ولې د طوطي خبره دې څنګه وکړه؟

ـ اول مې خوب کې طوطي ولید او لږ مخکې مې بیا هغه وړاندې باغ سره طوطي ولیده... پوهېږې که طوطي نه وای، له مابه شین سرې پکه جوړه وه!

دې وخت ویاړ په خپل ځای کې ودرېده، شاوخوا یې حیران حیران وکتل او په خوږې یې مسخرې وکړې:

ـ پام چې ونه وایې خبرې دې هم ورسره وکړې!

خوږې په نرمه لهجه وویل:

ـ هو! خبرې خو مې وکړې!

ـ نه خوږې، نه یې منم!

خوږې ورته قسمونه کول چې خبرې یې وکړې؛ خو ویاړ دواړه پښې په یوه موزه کې کړې او ویل یې:

-وایم نه یې منم!

ـ چې نه یې منې، ځه زه هم قصه نه درته کوم!

څو شېبې دواړه يو بل نه خفه معلومېدل. خو اخر د وياړ طاقت ونه شو او خپله کيسه يې پيل کړه:

خوږې، تېر کال مې د ونو په ښاخونو لوبې کولې، وړې ځانګې مې را ماتولې. بيا به مې د غنمو شنه وږي مات کړل. يا به مې د لښتي اوبه په تيږو او خټو بندولې.

ماشوم وياړ اسويلی وکيښ او بيايې زياته کړه:

خوږې پوهېږې هم به مې مور خفه وه او هم ټول کلی را نه خفه ؤ. دا ونې ګورې... ټولې ونې او بوټي را نه په عذاب ول.

خوږې چې څو شېبې وړاندې د غنمو شنه وږي په ګوتو کې مروړل، هغه يې نرم د پولې يوې خوا ته واچول او ځان يې داسې وښودو چې زه خو له ونو او بوټو سره هېڅ کار نه لرم!

خوږې او وياړ اوس يو بل ته د ويلو يو څه لرل. داسې څه چې هم دواړو علاقه ورسره وه اوهم يې ستونزه. خوږې غوښتل په دې اړه ډېر څه واوري! ځکه وياړ د شنه او ښکلي کلي اوسېدونکی و. د خبرو د اوږدولو لپاره يې وپوښتل:

ښه بيا څه وشول؟

وياړ دوام ورکړ:

پلار مې ډېرې ونې کرلې وې، خو څو کاله يې هېڅ ميوه ونه کړه!، د کلي دا نور باغونه خو ګورې! زموږ تر باغ يې ونې کوچنۍ دي؛ خو مېوې يې ښې نيولې. دې وخت کې مې پلار ډېر انديښمن ؤ.

خوږه نوره هم حيرانه شوه:

نو بيا يې څه وکړل؟

وياړ چې د خوږې دومره حيراني وليده، کيسه يې لا په خوند وغځوله:



په بر کلي کې یو سړی دی. حسن کاکا یې نوم دی. هغه ونو او نورو بوټو ته لکه ډاکټر داسې دی! پلار مې هغه راوست. هغه چې ونې ولیدلې، زما پلار ته یې ځینې شیان وښول، چې له ښاره یې راوړي او ونو ته یې ورکړي.
حسن کاکا نه مې وپوښتل، چې دا دوا ولې ورکوی، ونې خو نه ناروغېږي!؟
ده راته وخندل او ویې وېل: «بچیه! ونې هم لکه موږ ناورغیږي؛ نو ډاکټر به دلته ورته راولې. دا ونې او بوټي هم لکه موږ داسې دي، که دوا ورنکړو، پالنه یې ونکړو؛ نو نه به میوه کوي او نه به هم پاڼې شنې پاتې شي. که یې همداسې مرض ته پرېږدئ، نو ونې ورو ورو زېړېږي او اخر کې مري.
خوږې وپوښتل:
ښه نو بیا مو ونې ښې شوې؟
ویاړ وویل:
خود نو! هغه کال یې بیا داسې مېوې وکړې، چې ټول کلي کې زموږ باغ تر هر باغه هم شین و او هم یې مېوې ډېرې وکړې.
خوږې په حیرانۍ بله پوښتنه وکړه:
نو دوا یې بیا څنګه ورکړه، ونه خو خوله نه لري.
ویاړ له خندا شین شو. بیا یې ځان ټینګ نه شو کړی:
ههههههه... لیونۍ خوله لري، خو نه د تا په شان لویه خوله...
دې سره خوږه له غوسې شنه واوښته:
لیوه! خپله خوله دې نه ده لیدلې.
ویاړ نغوښتل خوږه خفه شي:
ښه مه غوسه کېږه...پوهېږې پلار مې دوا په یوه لوی پمپ کې واچوله او پر ونو یې وشیندله.

د خورې هېڅ باور ونشو:
ښه نو ته وایې چې په همدې ښې شوې؟!
ویاړ په ډاډ ځواب ورکړ:
خود نو!
خورې فکر وکړ چې ویاړ یې ځوروي:
خیر دی چې ونې مې نه دي لیدلې؛ خو دومره دروغو باندې هم باور نه کوم!
خوره له دې خبرې سره پاڅېده او په پوله ودریده تندی یې تریو ونیوه.
ویاړ ښه ډاډه ناست و. هغه همداسې پورته خورې ته وکتل. او ورته کړل یې:
ته یې چې نه منې؛ نو ما ته یې څه!
خوره په پوله مخ پورته ولاړه. د پټي په کنج کې یې کوچنۍ ونه ولیده. ونې نرۍ نرۍ لښتې کړې وې. خورې لاس ور وغځوو، یوه لښته یې ترې راکش کړه. دې سره کوچنۍ ونه ټوله وخوځیده! ویاړ چې له خپله ځایه ځارله پرې غږ کړ:
مه! ویې نشکوې گوره!
خورې وختې له کوچنې ونې لښته بېله کړې وه. ویاړ ساه نیولی ورته ودریده. کوچنۍ ونه لا خوځیده. ویاړ بیخي ډېر خفه شو. هغه ونې خوا سره غلی کېناست. خورې چې ویاړ دومره خفه ولید، بېرته ورته راوگرځیده.
ته ولې دومره خفه شوې؟ ما خو ددې نورو ونو ښاخونه هم شکول! ته خو دومره نه خفه کېدې!
ویاړ په کوچنۍ ونه ورو ورو لاس تېراوه. هغه پرته له دې چې خورې ته وگوري وویل:

دې ورځو کې یې د لمر ډالۍ راوړله، خو تا...
ویاړ لـه دې خـبرې سره چـوپ شـو او سر یـې پـرې راوځړېـد. خـوږه ددې خـبرې پـه اوریـدو حیرانـه شـوه! لـه حالتـه یـې داسـې ښـکاریده، چـې هېڅ پـه خـبره نـه ده پوهـه شـوې:
څه، څه د لمر ډالۍ!؟
ویاړ غلـی ناسـت و. هغـه کوچنـۍ ونـې تـه ځـیر ځـیر کتـل. داسـې ښـکاریده لکـه لـه ونـې چـې ښښـنه غـواړي! خـو خـوږې ویـاړ پـه دې حـال پرېنښـود:
څه دې وویل... ته بیا ووایه؟
ویاړ په لوړ او غریو نیولي غږ ورغبرگه کړه:
کښه یې، نه یې اورې!؟
خوږې په ټیټ غږ ورته وویل:
اورم! خو پوهه نشوم... چیغې مه وهه!
ویاړ په خفگان سره وویل:
دا ونـه مـې تېـر کال پـه سـیوري کـې ایښـې وه. هغـه وخـت مـې دومـره مینـه لـه ونـې سره نـه وه. خـو حسـن کاکا چـې را تـه د ونـو پـه اړه وویـل؛ نـو مـا د خپلـو غلطیـو د ښښـنې لپـاره دا ونـه کېنولـه. خـو ونـه هېڅ نـه لوییـده! د ونـې زه نـه خوښـېدم؛ ځکـه مـا دوی ډېـرې ځورولـې وې! پـه دې ښـه پوهېـدم، چـې دا او نـورې ونـې رانـه خفـه دي. خـو مـا فکـر کاوه، چـې یـوه ورځ بـه دا وړوکـې ونـه راسره خوشـحاله شي!
خوږې وپوښتل:
نو بیا څنگه درسره پخلا شوه؟
ویاړ په هماغسې خفه غږ دوام ورکړ:
حسـن کاکا مـې پـه لاره کـې ولیـد. د وړوکـې پـه اړه مـې ورتـه وویـل، چـې رانـه

خفه ده! اوس يې زه د خوشحالۍ لپاره يې څه وکړم... دوا ورته واخلم؟
حسن کاکا راته وخندل:
هو بچيه! خو ددې ونې درمل بل شی دي! زه درځم بيا يې له نږدې ګورم.
دا موضوع د خورې لپاره بيخي د حيرانۍ وه:
بيا مو څه وکړل، حسن کاکا راغی؟
ويار په خوښۍ او اسويلي سره ووېل:
راغی خو پوره يوه اونۍ وروسته! وړوکې لا همداسې خفه وه، پاڼې يې نورې هم ژېړې شوې وې!
خورې په نيوکې سره ورته وويل:
اوبه به دې ورکولې کنه!؟
ويار چې هم خفه و هم په غوسه، ورغبرګه کړه:
ته نه وې چې راته ويلي دې وی... خود مې ورکولې. خاوره يې هم ښه نرمه وه. هغه وخت مې د هغې مخامخ لوېې ونې لاندې ايښې وه. حسن کاکا چې ځنګه وليده، ويې خندل.
پوهېږې انسانان چې خنګه ډوډۍ او اوبو ته اړتيا لري، يو بل څه ته هم اړتيا لري... پوهېږې هغه څه دي: پاکه هوا! انسان پرته له هوا ژوند نشي کولی. ونې بوټي هم د نرمې خاورې او اوبو په څنګ کې، د لمر روښنايي ته اړتيا لري. که لمر ور ونه رسېږي؛ نو همداسې به ورژېږي.
ويار لږ خبره ونيوه بيا يې خورې ته کړل:
صبر اسانه يې درته ووايم. ګوره دا ونې پرېږده، ته راشه په دغه پټي کې چې دا لمرمخي (ګل آفتاب پرست) ګلان ولاړ دي، دغو ته ښه وګوره! سبا يې له سهاره تر ماښام وڅاره! د لمر د مينې ډېره ښه بېلګه

یې همـدا ګلان دي.
سبا سـهار چـې راغلـم، نـو د ګل مـخ د لمـر پـه لـور ؤ. کلـه چـې لمـر پـه ډوبیـدو شـو، نـو کتـل مـې چـې د ګل خپـل مـخ د لمـر پـه لـور اړولـی.
هغـه وخـت مـا هـم کوچنـۍ ونـه لـه دې ځایـه راوایسـته او داسـې ځـای مـې کښـېنوله، چـې لمـر وربانـدې ولګېـږي.
اونـۍ وروسـته چـې حسـن کاکا بیـا راغـی. ونـه هـم یـو څـه تـازه شـوې وه.
حسـن کاکا څـو شـېبې د کوچنـۍ ونـې څنـګ تـه دمـه کښېناسـت. هغـه یـو ځـل لمـر تـه وکتـل بیـا ونـې تـه. او دې سره یـې نـرۍ موسـکا پـه مـخ را ښـکاره شـوه. بیـا یـې مـا تـه مـخ واړاوه:
ویـاړه زویـه! کوچنـۍ درنـه خوشحاله ده: اوبـه ورکـوې، زمکـه یـې نرمـه ده... لکـه چـې پـلار دې کـود هـم ورکـړی! حسـن اکا دا هـم وویـل «کوچنـۍ ویـل چـې لمـر بـه ډېـر ژر ویـاړ تـه ډالـۍ راولېـږي. خـو تـه یـې خامخـا همداسـې ساتنه کـوه!»
لـه دې کیسـې وروسـته، ویـاړ لـه ونـې پـه شـا شـو او پـه پولـه یـې تکیـه وکـړه. لـږ شـېبه وروسـته یـې خـوږې تـه پورتـه وکتـل:
تـه پوهېـږې، ونـې او بوټـي یـو بـل شـی سره هـم ډېـره مینـه لـري، دا مـا خپلـه ولیدل!
خـوږه هسـې هـم دده خـبرو بیخـي حیرانـه کـړې وه. هغـې داسـې خـبرې پـه لومـړۍ ځـل اورېدلـې! هغـې وویـل:
څه؟
ویاړ بیا هم په عادي حالت وویل:
خـوږې! ونـې او لمـرګلي لـه موسـیقۍ سره ډېـره مینـه لـري. زه چـې سـهار او مازدیګـره راځـم؛ نـو دا وړه راډیـو راسره راوړم. دلتـه چـې راشـم بیـا نـو پـه دې

کې سندرې نیسم او دا ټول سندرې ته داسې خوځېږي، چې ته به وایې سمې بازۍ یې زده دي.
دې خبرې سره د خوږې خیال وغوړېد «رادیو به سندره وایي او یوه یوه ونه او یو یو لمرګلی به څنې اچوي او ټوله دنیا به ګډېږي!»
خوږې ترې وپوښتل:
-ته څه پوه شوې چې د دوی سندرې خوښې دي؟
ـ تا خپله لږ مخکې څه وویل؟ په خوب کې دې څه لیدلي و؟
خوږې وویل:
هغه خو خوب ؤ، ته خو د رښتیا کیسه کوې.
ـ خوب و هغه...
ویاړ لا خپله خبره نه وه پوره کړې چې مور یې ورته غږ کړ:
راځئ نو! اوس به مو مجلس خلاص شوی وي... ویاړه زویه! له ما سره پلو کې ګندنه ده، ته ګلابو له پړي را ونیسه.
ویاړ ورغږ کړ:
ښه مورې!
د خوږې ذهن ګلابو ته شو، له ویاړه یې وپوښتل:
ته ګلابو بیولی شې؟
ویاړ وویل:
-ولې په شا کوم خو یې نه؛ خپله ځي!
ـ رښتیا ووایه؛ نه ترې وېرېږې؟
ویاړ په خندا او دبدبه ځواب ورکړ:
نه له تا نه وېرېږم، نه له هغې نه!
دواړو سره وخندل او روان شول. اوس ویاړ او خوږې په ارامه سره خبرې

کولې. اوس نو هغوی د جنګ کولو پر ځای یو بل ته ښه غوږ نیوه. له ویاړ سره نوې خبرې وې او خوږې سره ډېره تلوسه، ځکه خو یې یو بل ته ښه اړتیا وه، چې غوږ ونیسي.

***

خوږه اوس نو څه ناڅه د ونو بوټو په اړه یو څه فکر کولو ته اړ شوې وه. اوس به یې د باغ په لاره ځانګې نه ماتولې، په شنه فصل یې کار نه درلود. اوس به یې د هغو له لیدلو، اړخ په اړخ کېدلو او خوندور غږه خوند اخیست. دې سره یې د ویاړ د موسیقۍ خبره یې ښه په زړه ناسته وه.
دې کې څو ورځې تېرې شوې. غنم پاخه شول او دوی په ګډه له غنم لو نه خوند اخیست. خوږې ته یې ترور د غنمو د وړو ټولول هم ورزده کړل. ویاړ به هم په وړو ټولولو کې مرسته کوله. خو د خوږې کوچنۍ نه وه هېره شوې! هغه به هر ځل چې باغ ته تلله؛ نو چې کوچنۍ به یې ښه سمه ونه لیده، بېرته به نه را ګرځېدله.
یو مازدیګر خوږه د کوچنۍ ونې تر څنګ کښیناسته. په پاڼو یې ورو ورو لاس تېراوه. هغې به پخپلو نازکو ګوتو شنې پاڼې نازولې. داځل یې یو دم ټوپ کړ، له کوچنۍ ونې لرې د پټي په منځ کې ودریده. شاوخوا یې وکتل. ویاړ لرې د رشقې په پنډه زور واهه، چې په شا یې کړي. دې غږ پرې وکړ:
ویاړه! هی...اورې؟ دلته راشه، هله زر کوه!
ویاړ چې پنډه یو څه شا ته پورته کړې وه، هغه یې بېرته وغورځوله. او

بیـا پـه منـډه راغـی:
څه دي؟ ولې کوچنۍ داسې ته وارخطا وارخطا ګورې؟
ـ ته هغه د کوچنۍ په بيخ کې یو شی وینې؟
ـ نه، نه یې وینم کوم؟
خـورې د ویـاړ پـه اوږه لاس کېښـود او د هغـه شـا تـه یـې ځـان پـټ کـړ. بیـا یـې لاس د ویـاړ لـه سـترګو سره ونـې تـه ور اوږد کـړ:
ـ هاااغه، ته ښه ورته ځیر شه!
ـ په پاڼو کې یې وګورم که لاندې؟
خورې په غوسه ورته وویل:
سترګې خو دې تر ګلابو هم غټې دي؛ خو د هېڅ کار نه دي!
ویاړ چې په ملا ور کړوپ شوی و، بېرته نیغ شو:
ـ نـه پوهېـږم څـه شـی دې لیدلـی... لـه وېـرې داسـې رېـږدې، لکـه پاڼـه... ګـوره، هېـڅ شـی نشـته!
ـ شته، شته... ته صبر...
ویاړ یې ودراوه:
وګوره، هغه لاندې په خاوره کې ځښېدونکی شی ښیم!
ویـاړ لـه خنـدا شـین شـو. لـه خنـدا سره پـه ګـډا هـم شـو. بیـا یـې خـورې تـه پـه خنـدا وویـل:
وه نجلۍ! له خندا دې مړ کړم!
خورې حیران حیران ورته کتل:
دې کې د خندا څه دي!
ویـاړ چـې د خـورې جـدي ځېـرې تـه پـام شـو، نـو ځـان یـې بېرتـه سـمبال کـړ:

ـ ته دې ته حیرانه وې!؟
ـ هو ولې څه دي؟
ـ همممممم، ته څه فکر کوې دا به څه وي؟
د خورې تندی ګونځې شو!
ـ چې پوهېدای تا ته مې بیا نه ویل، چې دومره ملنډې راباندې ووهې!
ـ ګوره خورې بل چا ته ونه وایې! په خدای له خندا به یې مړ کړې!
ـ ویاړه! ریشخندي مه کوه! که وایې ووایه؛ کنه ډېر را باندې مه خانده!
ـ ښه صبر درته وایم...
ویاړ د کوچنۍ ونې بیخ ته لاس ور وړ او په لندو خاورو کې پروت چینجی یې راواخیست. هغه خپل لاس موټی کړ او تر شا یې ونیو او بیا د خورې مخې ته نږدې ودرېد او ورته کړل یې:
پوهېږې هغه شی څه و؟
خورې سر د (نه!) په اشاره وخوځاوه. خو ویاړ سترګې بړوقې راووېستې او خورې ته یې کړل:
ـ پوهېږې، مار و مار!!
له دې سره یې خپل موټی خلاص کړ: چینجی د ویاړ په لاس کې وخوځېدو.
خورې چیغه کړه او لېرې ودرېده:
ته ډېر بد یې ویاړه! اوس مې نېږدې نفس قید شوی ؤ!
ویاړ له خندا نه شین و:
ـ ډېره ډارنه یې!
ـ وم دې... اخر تا ته یې څه!؟
ـ ښه راشه درته وایم، چې دا څه شی دي!

خوږې په غوسه ورته ویل:
نه درځم! ته مې بیا په دې شي وېروې!
له لږ خندا وروسته، ویاړ ډاډ ورکړ:
ـ نه دې ډاروم! وګوره دا چینجی دی! دا په خاور کې ژوند کوي.
ـ دا خو د وړوکي مار په رقم دی.
ـ له ظاهره هغسې ښکاري؛ خو د مار بچي خطرناک دی. راځه، دا په چا کار نه لري...
خوږه چې لږ ارامه شوه. بیا ویاړ هغې ته دا کیسه راواخیسته:
ګوره خوږې! هغه ورځ د سیفو کاکا زوی ویس، په ګرمۍ په اوبو کې لامبل. ویس تر لامبلو مخکې خپلې جامې د رود په غاړه غورځولې وې. هغه چې له لامبو را خلاص شو؛ نو ژر ژر یې جامې غاړې ته واچولې. خوږې، باور دې کېږي! د ویس په جامو کې د مار بچی ننوتی و. خو ښه ؤ د موږ د مار بچي ته پام شو: د مار بچی د هغه پر کمیس را ځړېده! ښه ؤ، ویس خدای وساته. خو دا د چیچلو شی نه دی... دا ده ښه وګوره... خپله وینې، چې ما په لاس کې نیولی... هه ته یې هم ونیسې!
ویاړ چې چنجی خوږې ته ور وړاندې کړ، هغې په وارخطایۍ لاسونه تر شا پټ کړل:
نه نه! زه یې نه غواړم!
ویاړ چنجی خلاص موټي کې نیولی ؤ او خوږې ته غږېده:
ـ پلار مې ویل، چې چینجي ونو ته خاوره نرمه وي. هغه زمکه چې چینجي ولري، ونې بوټي یې، ښه وده کوي... ونیسه، ته یې واخله! نه دې خوري!



ـ نه يې اخلم!

د خوړې دې چلند سره ویاړ څه ونه وېل. دواړه خاموش شول. خو خوړې د سترګو له کونجو چنجي ته ور کتل. بیا لړ نېږدې ورغله او ویاړ یې وپوښته:

- ښه دا څه شی خوري، خاورې؟

ـ دومره خو زه هم نه پوهېږم، چې څه خوري!

خوړې ونې ته وکتل. بیا یې ژر ووېل:

ـ دا به ونې خوري!

ویاړ سترګې کش کړې:

خدایزده نه پوهېږم!

دې خبرې سره ویاړ هیجاني شو او خوړې ته یې ووېل:

الله دا مې درته ونه وېل: مرغۍ چې دي بیا دا چنجیان خوري!

خوړې چې دا واورېدل، دستي یې د طوطي خبره را واچوله:

طوطي هم چنجیان خوري؟

ویاړ یو ځل د لاس چینجي ته وکتل او بیا یې ووېل:

خود به يې خوري، هغه مرغه نه درته ښکاري که څه؟

دې خبرې سره ویاړ سترګې تتې کړې، لرې چنارونو ته ځیر شو:

خوړې، غواړې طوطیان وګورې؟

خوړې ته د ویاړ دې خبرې سخت خوند ورکړ:

ایله چې سمه خبره دې وکړه؛ خود یې ګورم...هله ووایه، چېرې دي؟

ویاړ د لاس چینجی وغورځاو او بیا یې خوړې ته ووېل:

ـ ته صبر زه هغه پنډه یوې خوا ته کړم، بېرته راځم او ځو به!

ـ چېرې... طوطیانو ته؟

ـ هو ودرېږه ببرته راځم!

ویاړ د رشقې پنډه د پولې یوې خوا ته کړه. بیا یې منډه کړه د باغ کوټې ته دننه شو او له هغه ځایه یې یو د لیلون نه جوړ شوی زوړ دام راواخیست. خوږې په ویره ویره له دې لېرې هغه ځاره. دې وخت کې ویاړ را ښکاره شو او د پټي له کونجه یې خوږې ته غږ کړ:

هله راځه!

خوږې یو ځل بیا چینجي ته وکتل. چینجی د زمکې پر مخ کوږ وږ وخښېد، ځان یې د پولې بیخ ته ورساوه.

خوږې د ویاړ له دویم غږ سره، له چنجي سترګې لېرې کړې او په لوړه یې ویاړ ته «ښه» وویل.

خوږه چې د پټي کونج ته ورسېده، د ویاړ په لاس کې یې جړ تارونه ولیدل او حیرانه شوه:

دا څه دي؟

ویاړ چې د لاس تارونه یې سره راټول، ځواب ورکړ:

ـ دام دی دام!

ـ طوطیان نیسې؟

ـ خدایه شکر! په یوه خبره خو پوه شوې!

ویاړ را نږدې کېده او په خندا یې خوږې ته ووېل:

-که مو طالع وې؛ نو درته نیسم یې!

ـ طوطیان چېرې دي؟

ـ هغه چنارونو کې یې ځالې دی.

ـ تا لیدلي؟

ـ خود مې لیدلي!



بیا دواړه د چنارونو په لور روان شول. اوس نو لوړ مازديگر ؤ. د چنارونو ونې گڼې وې. د هغو په منځ کې توره تیاره وه. خوره او ویاړ دوه په دوه، یوازې روان ؤ او دې وخت کې د ډول ډول مرغانو غږونه اورېدل کېدل.
دا فضا د خوږې لپاره بیخي نوې وه. هغې له هیجان سره، حیران حیران شاوخوا ته کتل. خو یو وخت د هغې پام شو، چې په چنارونو کې چوپه چوپتیا ده.
ویاړ مخکې روان ؤ او خوږې ځان ورپسې رساوه. یو وخت ویاړ ښه ورانډې رسېدلی ؤ. هغه د گڼو چنارونو منځ کې پورته پورته کتل: پاس په لوړو ښاخونو کې د مرغانو شور جوړ ؤ. ویاړ له دې هم وړاندې ولاړ. دې وخت کې خوره یو څه واهمې واخسته او په ویاړ یې غږ وکړ:
ویاړه! نور چېرې ځې... دومره وړاندې څه کوې؟
ویاړ کړوپ کړوپ روان ؤ. هغه خوږې ته د اشارې په ډول خپله گوته پر شونډو کېښوده او هغې ته یې کړل:
- ایششششش! په زوره مه غږېږه... بیا تښتي.!
خوږې چې هرڅه پاس وکتل؛ خو څه یې ونه لیدل:
- څه شی تښتي؟
- ته اوس غلې شه بیا درته وایم!
- هممممم!
ویاړ همداسې خپ خپ مخته روان ؤ. خوږې اوس هم دده پلونه تعقیبول! ویاړ د یوې ونې تر ډډې گرد تاو شو. بیا یې خوله پورته ونیوله. ویاړ د چنار لوړ ښاخونه ښه وڅارل. خوږې ته یې د لاس له اشارې سره، غلي وویل:
- خوږې! زه په دې ونه پورته خېژم. یو ځل گورم، که یې ځاله کې بچي

ؤ، هغـه بـه را واخلـم. خـو کـه نـه ؤ، بيـا بـه دام کښـېږدو، چـې طوطيـان پـه دام ونښـلي.
ماشـومې خـوږې چـې ونـې تـه وکتـل؛ نـو ډېـره ورتـه لـوړه ښـکاره شـوه. د ونـې پـر تنـه د پښـو ايښـودو ځـای هـم نـه ؤ. هغـې ويـاړ تـه ورو خـو لـه ټينـګار سره ووېـل:
ـ نـه، نـه کېـږې! تـه نشـې ختـی... اوس بـه راولوېـږې... کاش کـې زينـه وای، بيـا مـې څـه نـه وېـل...!
ـ نـه لوېـږم! تـا نـه يـم ليدلـی، زه شـل ځلـه ختلـی يـم... هـه تـه دا دام ونيسـه!
خـوږې چـې هرڅومـره ووېـل، چـې بې لـه زينـې ونـې تـه ختـل خطـر لـري! خـو ويـاړ د هغـې پـه خولـه ونـه کـړل. هغـه د ونـې پـه ډډه ځـان سرېـښ کـړ او مـخ پورتـه د ځـان پـه کشـولو شـو. لـږ چـې وخـت، لاسـونه يـې سـتړي شـول. سـتړيا سره ويـاړ لانـدې راوکتـل، دې سره سر پـرې وڅرخېـد او لانـدې پـه شـنو وښـو راوغورځيـد. ماشـومه خـوږه لـه خنـدا نـه ورتـه شـنه وه:
ته خو شل وارې ختلی وې څه وشول، هاهاها...
وياړ، له درده تاوېده؛ خو ويې نه ژړل او خوږې ته يې ځواب ورکړ:
ـ خير دی، کله کله خو سړی رالوېږي!
ـ هو ښه و چې ډېر نه وې ختلی کنه اوس به دې پښې ماتې وې!
لـه درد سره سره، ويـاړ لـه لـږ دمـې وروسـته لـه زمکـې پورتـه شـو. د خـوږې له لاسـه يـې دام واخيسـت. دام يـې د پاڼـو منځ کـې پـټ کـړ او بيـا دواړه ګوښـه شـول. داسـې دواړه پـه دام کـې د طوطيانـو نيولـو تـه پـه طمعه کښېناسـتل.

* * *

یو وخت هوا سمه تیاره شوې وه! خو ددغو دواړو فکر یوازې د دام خوا ته و. یو څه ماښام را نېږدې شوی ؤ او څه هم د چنارونو خپله تیاره وه، هغوی نور ایښوولای دام نشو لیدلی. دې وخت کې په پاڼو کې کښ کښ شو. د دواړو سترګې په تیاره کې وځلېدې! بیا دواړو په دام ورمنډې کړې. دام ته چې نېږدې شول، ګوري، چې دام د پیشو په پښه کې بند شوی او پیشو لګیا ده ځان سره دام کشوي.

دا ځل بیا خوږې ته د خندا وار په لاس ورغای. اوس نو پیشو مخکې او ویاړ ورپسې، دواړه منډې وهي. پیشو له ډاره منډې وهلې او ویاړ د خپل دام په غم کې ؤ! خو خوږه خټ ته له خندا ورانه ده.

اخر ویاړ او پیشو ښه سترې شول. پیشو، د چنار په زیږه ډډه پورته وختله. لاندې د ویاړ خوله ورپسې خلاصه پاتې وه. خوږه ښه نږدې ورغله. هغې پاس ونې ته وکتل. دې وخت کې پیشو میو کړ او ویاړ له غوسې په ډګ غږ، پر پیشو وګواښېد:

ـ مرګي میووو!

خوږه روانه شوه. ویاړ هم هغې پسې له چنارونو را ووت. دا وخت ښه تیاره شوی وه. هر رنګه چې ؤ ویاړ پنډه په منډه په شا کړه او دواړو ځانونه کور ته ورسول. مور، چې د کور مخې ته انتظار ولاړه وه، ورته په غوسه شوه:

تردې تور ماښامه مو څه کول؟ ګلابو له لوږې مړه شوه، غرمه مې چې له باغه راوسته، بیا یې څه نه دي خوړلي!

ویاړ او خوږې یو بل ته وکتل. دواړه خپلو منځو کې سره مسک شول او ځانونه یې تېر وېستل.

***

له دې وروسته به خوره هره ورځ باغ ته تله. او هلته به يې يوه نوې لوبه کوله. اوس به يې خامخا يوه ګل ته اوبه ورکولې. هر ځل به چې له کوره وتله، مور به يې سپارښتنې ورته کولې:
خورې لورې! څوک په عذاب نه کړې، ونې بوټي ونه شکوې، ځان ژوبل نه کړې!
دې به چې ښه دا نصيحت واورېده، بيا به مور د تلو اجازه ورکړه! بيا داسې شول، چې اخرو ورځو کې خو يې بيخي د مور نصېحت له ياده کړی ؤ! کله کله خو به وياړ هم ورته ځان غټ کړ او د مور د نصحيت په تکرارولو سره به يې خوره ځوروله.
د خورې او وياړ شوخي دومره ډېره زياته شوې وه، چې د خورې ښايسته څپلۍ وشلېدې. څپلۍ نو څه ملامتې وې، خوره خو به ټوله ورځ په اوبو کې په مستيو وه! بيا به خورې د وياړ څپلکې په پښو کولې. وياړ دې ته خوښ ؤ چې خوره ورسره وي.
د خورې اوس له وياړ سره نانديرۍ کمې شوې وې. نور نو د خورې د وياړ له کوچنۍ ونې سره هم مينه پيدا شوې وه. اوس به چې باغ ته لاړه، خامخا به يو ځل کوچنۍ ته ورتله، څو شېبې به يې ورسره کښيناسته او خبرې به يې ورسره کولې. د سندرو په اړه د وياړ خبرې لا هم د خورې په ذهن کې وې. هغې به له ونې پوښتل:«کوچنۍ! دا رښتيا ده، چې ستا سندرې خوښې دي؟»
خوره به لږ چوپ شو او بيا به يې ونې ته ويل:«څه پوهه شم؛ خو



ککړ مخي ویل! ښه رښتیا دا ووایه، زما دا سندره څنګه ده؟»
خوړې به لړ څه «امممم...» کړل او بیا به یې دا سندره ونې ته وېله:
اې د ګودر د غاړې ګلې وړې
څانګې دې ګل شه چې امېل ترې جوړومه وړې
لویه شې وړې...
خوړې ونې ته سندره وېله، چې دې وخت کې ویاړ ورو ورو په پوله را نېږدې شو. هغه د خوړې سندرې وېلو ته ډېر حیران شو:
اوهووو... هو، خوړه سندرې هم وایلای شي!
خوړه ډېره وشرمېده:
نه نه... سندرې خو مې نه ...
ویاړ وخندل او د خوړې خبره یې ونیوه:
ځه ښه دی ما فکر کړی ؤ، چې یوازې جنګ دې زده دی!
خوړې په ګیله ووېل:
-خو تا ویل چې سندرې یې خوښې دي!
ـ هو! سندرې یې هم خوښې دي، خو ستا غږ به یې له سندرو زړه تور کړي.
خوړه په غوسه شوه او بیا داسې د ونې له څنګه جګه شوه.
ویاړ پرته له دې چې خوړې ته څه ووایي، په کوچنۍ ونه یې لاس راکش کړ. خوړه هم بېرته آرامه شوه او غوږ شوه، چې ویاړ به نور څه وایي؟ ویاړ خپل ماشوم لاس، په کوچنۍ را کشاوه او ویې وېل:
یو دوه اونۍ، زه ناروغ وم؛ نو فصل ته رانغلم. هغه وخت مې مور کوچنۍ ته اوبه ورکولې. څه وخت وروسته چې راغلم د کوچنۍ پاڼې وړې شوې وې. دا خفه ښکاریده.

-بیا دې څه وکړل؟
-بیـا مـې راډیـو ولګولـه او کوچنـۍ د سـندرې لـه اورېـدو سره، لـه سره را ژونـدۍ شـوه. پـه بلـه ورځ یـې چـې لیدلـو تـه راغلـم، رنـګ یـې بېرتـه تـازه شـوی ؤ. پاڼـو یـې غـوړ پیـدا کـړي ؤ. زه د کوچنـۍ دې حالـت تـه بیخـي حیـران شـوم.
خـوږې تـه چـې د ویـاړ خـبرو خونـد ورکـړ، نـو بېرتـه کښیناسـته. خـو اوس هـم د هغـې ذهـن کـې، یـوه خـبره نـه وه حـل شـوې! هغـې خپلـه دا پوښـتنه هـم لـه ویـاړه وکـړه:
دا به د لمر ډالۍ ښنګه راوړي، او هغه ډالۍ به...
ویاړ وویل:
-هغه راوړي؛ خو ستا هېڅ باور نه کېږي، پوهېږم.
- خود نو، دې باندې به ښنګه سړی باور وکړي!
ویاړ یو څه ناهیلی شو او ویې وېل:
ـ سمه ده هوښیارې، ته باور مه کوه...اخربه یې خپله ووینې!

* * *

څـو ورځـې همداسـې تېـرې شـوې. د خـوږې رخصتـي هـم مـخ پـه خلاصېـدو وه. خـو دا د لمـر ډالـۍ تـه پـه طمعـه وه، چـې ښنګـه بـه وي او څـه بـه وي؟
ویـاړ هـم خـدای کـول چـې اوس دا ډالـۍ زر تـر لاسـه کـړي؛ کنـه دې ښـاري نجلـۍ تـه بـه وشرمېـږي!
دې کـې دوه ورځـې نـورې هـم تېـرې شـوې. دریمـه ورځ سـهار وختـه ویـاړ بـاغ تـه ولاړ. هلتـه ګـوري، چـې کوچنـۍ ونـې ډالـۍ پـه غېـږ کـې نیولـې. ویـاړ

دې وخت کې لـه خوشحالۍ پورتـه پورتـه پـه ترپکـو شـو. لـه زیاتې خوښۍ او هیجانـه هېـڅ نـه پوهېـده چـې څـه وکـړي!
بیـا نـو ویـاړ بېرتـه مـخ پـه کـور، پـه منـډو شـو. د کـور او بـاغ ترمنځ لاره یـو څـه اوږده وه. خـو یـوه بلـه لنـډه لاره هـم وه چـې ویـاړ بـه کلـه کلـه، لـه مـور او پـلاره پـټ پـه هغـې ځـان کـور یـا بـاغ تـه رسـاوه. دا لاره د رود دپاسـه تېرېـده. د رود پـر سر یـو نـرۍ تـیر ایښـی و او ډېریـو غټانـو او ځوانانـو بـه پـه همـدې لاره تـګ راتـګ کاوه.
اوس نـو ویـاړ هـم خوشـحاله و او هـم یـې لـه وارخطایـی لاس پښـې لړزیـدل. هغـه د رود پـر سره پـه همـدې تیـر، د تېرېـدو هـوډ وکـړ. ویـاړ خپلـې ورې پښـې پـه تیـر کښېښـودې، څـو ماشـوم ګامونـه یـې پـه سـختۍ واخسـتل. خـو د تیـر یـا د درې نیمایـې تـه چـې ورسـید، سـترګو یـې سـیاهي وکـړه، سر پـرې وګرځیـد او نـور پـه ځـان پـوه نشـو.
دې سره لـه روده بـد غـږ پورتـه شـو او د اوبـو څپـې یـې بـرې را بـاد شـوې. د رود هـا غـاړه یـو کوچنـی دوکان ؤ. دوکان کـې د کلي ځـوان هلـکان راټـول ؤ. هلکانـو چـې دا غـږ واورېـد، رود تـه یـې ورمنـډه کـړه. ګـوري چـې ماشـوم هلکـی د رود د زیاتـو اوبـو پـه منـځ کـې لاس او پښـې وهـي. ځوانانـو، ژر ورټـوپ کـړل او ماشـوم یـې راووېسـت.

*   *   *

ویـاړ پـه دې شـنه سـهارلوند خیشـت کورتـه رانـوت. د هغـه کوچنـۍ زنـه د سـړو لـه وجـې رېږېدیـده. ویـاړ وارخطـا وارخطـا شـاوخوا وکتـل؛ څـوک نـه ؤ. هغـه غـږ کـړ:

موري و مورې!

خـوږې یـې چـې غـږ واوریـد، پـه منـډه ورغلـه. لـه ویـاړ نـه اوبـه څڅېـدې، زنـه یـې لـه یخنـۍ رېږدېده:

مور مې چېرې ده؟

خـوږې پـه داسـې حـال کـې چـې خپلـې لـه خوبـه ډکـې سـترګې مښـلې، ورتـه وویل:

په دې شنه سهار نو څوک لامبي؟

ویاړ ځواب ورکړ:

دروغ ولې وایې، نه مې دي لامبلي؟

خوږې چې یې جامو ته وکتل، حیرانه شوه:

نو دا جامې دې څنګه؟...

مور، چې دا صحنه کتله، له خوږې بدتره حیرانه شوه:

وی، څه شوي؟ دا ولې داسې لوند خیشت یې وه زویه؟

ویاړ په رېږدېدلي غږ ځواب ورکړ:

ـ په رود کې ولوېدم!

ـ په دې شنه سهار دې له روده څه غوښتل؟

ویاړ په عاجزۍ وویل:

ـ کوچنۍ ته ورغلی وم.

ـ اللـه هلکـه، واخلـه دا پاکـې جامـې واغونـده، چـې اوس بـه مـې زړه درېدلـی وي!...

مور په دردمن حالت ویاړ ته جامې وراغوستلې او ورته په نصحیت وه:

ته به په دې میرات مړې ونه ځان مړ کړې!

د کوچنۍ ونې د نوم په اورېدلو سره، خوږې وارخطا وپوښتل:

په کوچنۍ څه شوي؟
ویاړ په ګیله ځواب ورکړ:
ـ نه وایم درته!
ـ ولې؟
-دواړه به ورځو، چې پخپله یې وګورې!
د مور له پالنې او د خوږې ملګرتیا په لرلو سره، ویاړ څو شېبې وروسته، ډېر خوشحاله ؤ. یوه یوه پیاله چای دواړو وڅښه. بیا د باغ پر لور روان شول. خو دې وخت کې له څټه د خوږې مور غږ ور پسې کړ:
وه نجلۍ، ګوره چې ځان ژوبل نه کړې!
دې سره د ویاړ د مور هم ورپام شو او پسې ورغبرګه یې کړه:
ویاړه! په ښکته لار لاړ شئ! په خوږه دې پام وي! ته خو هسې هم له تیږې جوړ یې!
د خوږې مور پرې غږ کړ:
خورې، شکر وباسه! زوی دې څومره، چې شوخ دی، هومره ویښ او بیداره هم دی! ډېر منت پرې مه کوه خیر تر اوسه وړ هلک دی.
د ویاړ مور ورغبرګه کړه:
وی، خورې غټ سړی دی! دادی سبا بل سبا دیارلس کلن کېږي. زیاتي نو دومره شوخي ورسره بده ښکاري.
د خوږې مور وویل:
حوصله کوه خورې، ورو ورو به ښه شي... ته زما خوږه نه ګورې، څنګه د ماشومانو خویونه کوي!
د ویاړ مور ورغبرګه کړه:
هغه خو هماغسې نازولې ده، ترور ترې ځار کړې!



دواړو سره وخندل. اوس نو خوږه او ویاړ باغ په لور وتلي ؤ.
دې سره د خوږې مور خپلې جامې راټولې کړې. خور یې هم ورته مستې او چکه برابروله، چې سبا بیرته ښار ته روانېږي.
دباندې، ویاړ او خوږه په منډو روان ؤ. ویاړ ورته وویل:
که مې کړې خبره رښتیا شوه او لمر راته ډالۍ را لېږلې وه؛ بیا به ما ته څه جایزه راکوې؟
خوږه شېبه غلې شوه:
امممم... له ښاره درته نوې راډیو رالېږم.
ویاړ د (نوې راډیو) د نوم له اورېدلو سره وغوړېد، خو بیا یو څه اندېښمن شو. اخر یې خوږې باندې ټینګار وکړ:
خو رالېږې به یې ګوره! اوس دې وویل، سمه ده؟
سمه ده، خو ته یو ځل ډالۍ راوښیه.
دې کې ویاړ خوږه د کوچنۍ ونې مخ ته ودروله. کوچنۍ ونې د آسماني پرېښتې په شان، دوه سره رنګې ګلان په لاسونو کې نیولي ؤ. له ګلانو د عطرو خوشبویي روانه وه.
خوږه هکه حیرانه وه: خړې خاورې، شنې پاڼې او پکې تک سره ګلان!
خوږه ځان سره په خواږه چرت کې تللې وه: داسې ګلان یوازې د لمر ډالۍ کیدای شي او بس.
د کوچنۍ ونې څنګ ته درې څلور پاڼې راشنې شوې وې. ویاړ په ارامه هغه ورنه رابېلې کړې. بیایې په یوه پلاستیک کې سره ونغښتې او خوږې ته یې ورکړې، چې ښار ته یې ورسره یوسي!

***

خـوږې پـه کلي کـې ښـې شـېې ورځـې تېـرې کـړې. اوس يـې هېـڅ زړه نـه کيـده چـې ښـار تـه لاړه شي!

خـوږې لـه ونـو بوټـو سره مينـه پيـدا کـړې وه. ونـو تـه يـې څـو ځلـه اوبـه ورکـړې وې. هغـې اوس د ونـو د شـنو څانگـو ماتولـو پـر ځـای، هغـه نازولـې.

د ويارړ مور ورته وويل:

سـتا لـه راتلـو سره ونـو ښـې مېـوې وکـړې! تېـر کال دا وخـت ونـو ډېـر مـرض وکـړ؛ ټولـې مېـوې خرابـې شـوې، بيـا مـو دوا ورکـړه.

ويارړ يې د مور خبرو پسې ووېل:

حسـن کاکا ويـل چـې شـايد راتلونکـی کال بيـا خرابـې شي، خـو دادی ونـو هيـڅ مـرض ونـه کـړ.

خـوږه خوشـحاله وه، چـې ونـې او بوټـي ورنـه نـه دي خفـه. هغـه پـه دې هـم خوشـحاله وه، چـې کلي کـې يـې هېڅـوک نـه دي ځـورولي. هغـې ويـارړ تـه وويـل:

پسرلی به راته نيالگي را لېږي، چې د ښونځي په انگړ کې يې کښينوم.

خو ويارړ شرط ورته کښېښود:

تر هغو چې دې راته راډيو نه وي لېږلې، ونه منه نشته!

د ويـارړ او خـوږې دې خـبرو تـه ټولـو وخنـدل. خـوږې يـې بيـا ژمنـه تـازه کـړه، چـې ويـارړ تـه بـه نـوې راديـو را لېـږي. خـوږې بلـه وعـده هـم وکـړه:

يو بل څه هم رالېږم!

دې سره ويـارړ خپلـې مـور تـه وکتـل. هغـې مخ خـوږې تـه واړاوه او پـه تعجـب يـې تـرې وپوښـتل:

ـ لورکۍ بل څه؟



ـ هو تروري، ویاړ ته کتابچې او قلم!
ویاړ په خندا شو او ویې ویل:
ښه، خو یو بل څه دې هم هېر نشي!
خوره حیرانه شوه، چې ویاړ بل څه وایي:
ـ څه؟
ـ زما څپلکې دې راته زړې کړې؛ هېرې دې شوې!؟
ـ رالېږم يې... توبه دوه ورځې مې په پښو کړې!
د ویاړ او خورې خبرو ته ټولو وخندل مخه ښه يې سره وکړه.
خوره بېرته ښار ته راغله. د ویاړ لخوا را لېږلی د ونې نیالګی يې کېښوه.
د خورې پلار هم د هغې په فرمایش، ویاړ ته ښایسته راډيو واخسته او خورې هغه له یوه کوچني لیک سره، ویاړ ته ورولېږله. راډيو او نوره سودا په یوه اونۍ کې ویاړ ته ورسېده. ویاړ شرمېده، چې د خورې لیک خو نشي لوستی. اخر يې د حسن اکا په مرسته، د لیک متن له یاده کړ. خو حسن اکا وعدې ترې اخستې وه، چې ورو ورو به لیک او لوست هم زده کوي!
دې سره ویاړ راډيو را واخسته او ځان يې باغ ته ورساوه.
ویاړ په باغ کې د کوچنۍ ترځنګ راډيو ولګوله او بیا يې د خورې کوچنی لیک را وویست. لیک کې په مات ګوډ ماشومانه خط دغه بیت لیکل شوی ؤ:
«هر ژوندی په محبت باندې پوهېږي
چا ویل چې دا جذبه لا انساني ده...»

# پای

# د توانا نوي چاپونې



























# د توانا لومړۍ جشنوارې کتابونه






















